# همبستگی غږ

د افغانستان د همبستگۍ ګوند خپرونه

۱۰

پښتو

اوړی ۱۳۹۶




کابل – ۱۳۹۶ کال د زمری ۲۶مه: د «افغانستان همبستگی گوند» د یو محفل په ترڅ کی د هیواد خپلواکی ورځ ولمانځله چی په مرکزی شعار «نیواکگرو او د هغوی بنسټپالو او غیر بنسټپالو چوپړانو په شړلو سره د هیواد له خپلواکی څخه ساتنه وکړو!» بڼاول شوی وو.... ۱ مخ



# همبستگي

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷

**د ګوند موخې**

- خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو وګړو مساوی حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایی او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

## پدې ګڼه کې:

د خپلواکۍ لمانځل............................................................ ۱

تر هغې چی راولاړ نشو، ددې خاورې هر ګوټ به میرزاولنګ وی!............ ۴

په تخار او بدخشان کې د کارګرو ماشونو ستونزمنو کارونو انځورونه ............ ۷

د خښتوپخولو په بټیو کې د کارګرانو ستونزمن ژوند........................... ۱۰

د کابل په واټونو کې د شورای نظار لنډغری او ځناورتوب ....................... ۱۶

آزادی غوښتونکې رهبران چې د سی.آی.ای له خوا ووژل شول ...................... ۱۸

د افغانستان سپورټ په تاریخ کې د خواشینونکې پیښې جزییات ....................... ۲۵

له مینې مجلې سره د سیلۍ غفار مرکه .............................................. ۳۶

په بریتانیا کې د یو اخوانې رسوایی ............................................... ۴۲

«د ګلبدین لاره د مړو څخه فرش ده».............................................. ۴۴

له دردہ ډکه تاریخی پرتله........................................................... ۴۶

«د وژونکو ډله»، په افغانستان کې د امریکایی ځواکونو ځناورتوب مستند .... ۴۸



گزارشونه

# د خپلواکۍ لمانځل




کابل - ۱۳۹۶ کال د زمری ۲۶مه: د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د یو محفل په ترڅ کې د هیواد خپلواکۍ ورځ ولمانځله چې په مرکزي شعار «نیواکګرو او د هغوی بنسټپالو او غیر بنسټپالو چوپړانو په شړلو سره د هیواد له خپلواکۍ څخه ساتنه وکړو!» بناول شوی وو. په سریزه کې، د پروګرام وېناوال وویل:

«د همبستګۍ ګوند چې ځان د شاه امان الله خان او د هغه مشروطه غوښتونکو یارانو د لوړو موخو لاروی بولي، په دې باور دی چې باید د سرور واصف او د هغه سنګروالو په څیر پرته له ویرې ربړونه او اعدام ومنو ترڅو زمونږ وینه د هیواد آزادۍغوښتونکي غورځنګ بارورکړي. هغه وینه مو چې له تل‌پاتي سیدکمال، محمد عظیم خان منشي‌زاده، محمد ولي خان دروازي، غلام نبي خان چرخي، عبدالرحمان لودین او د مشروطیت دورې له لسګونو نورو رون‌آندو څخه په میراث اخیستی باید په نه ډاریدونکي او قاطع مبارزې سره راتلونکي نسل ته ډالۍ کړو.»

وروسته آغلی سیلی غفار، د همبستګۍ ګوند ویاندې د خپلې وینا په لړ کې وویل:

«د هیواد د خپلواکۍ بیرته ګټلو ورځ د افغانستان ټول بندي ولس ته په داسې حال مبارکي وایم چې زمونږګران هیواد په وینو

او د پردیو او د هغوی کورنیو چوپړانو په جنایت کې سوزي.

...



تاریخ مونږ ته دا لوست راکوي هغه هیواد چې خپلواکي نلري په واقعیت کې هیڅ نلري او ټوله مادي او معنوي شتمني یې په خطر کې وي. د خپلواکۍ لاس ته راوړل آزادۍ، دموکراسۍ، عدالت، ځمکنی بشپړیتا او نورو انساني ارزښتونو ته د رسیدو په لار کې لومړنی ګام دی. که ۹۸ کاله وړاندې زمونږ نیکونو د قربانیو په ورکولو سره یې د پیرنګیانو پوزه په خاورو ومږله او هیواد یې آزاد کړ، نن هم د ټولو وطنپالو افغانانو پر وړاندې خطرناکې دندې پرتې دي. مونږ باید د خپلو پلرونو له اتلولۍ او زړورتیا څخه په درس اخیستنې، پرینږدو چې هیواد مو نور هم د پردیو د لوبو ډګر شي او زمونږ هیوادوالو ته نور هم سپکاوی وکړي. یوازې د بهرنیو تیري کونکو او کورنیو غدارانو په وړاندې په اعتراض، پاڅون او آزادۍغوښتونکې مبارزې سره کولای شو د آزادۍ دعوا وکړو.»

سربیره پر دې، په دغه پروګرام کې د «بادل سنګهه او ملګرو لړګی نڅا ډلې»، «صلصال موسیقي ډلې»، «د نجونو اتڼ ډلې»، «سترنګز موسیقي ډلې»، «د ابراهیم او ملګرو اتڼ ډلې» او د «شیهان امین الله یعقوبي کیوکوشین کاراټې ټیم» خپل هنر ګډونوالو ته وښوده. ددې ترڅنګ د «کوچنیانو لپاره د ګرمی غیرې موسسې» تنکي ځوانانو هم خپل انځورونه ننداري ته وړاندې کړل. هغو ډلو ته چې په دغه پروګرام کې یې ګډون کړی وو په هیواد کې د موسیقي، سیمه‌یزې نڅا، انځور جوړونې او ورزش خپرولو لپاره، د همبستګۍ له لوري ستاینلیکونو ورکړل شول. پروګرام د ګوند ځوانانو د تیاتر په ترسره کولو پای ته ورسیده.


HAMBASTAGI.ORG


"تمام ما [زنان] باید برای
پیشرفت ملت ما کار کنیم و
این بدون داشتن علم امکان
پذیر نیست."
HAMBASTAGI.ORG


HAMBASTAGI.ORG



اعلامي

# ترهغې چې راولاړ نشو، ددې خاورې هر ګوټ به میرزاولنګ وی!



یوځل بیا زموږ ولس په سرپل کې د بې‌ګناه هیوادوالو په ویر کې ډوب شو. د ۱۳۹۶ کال د زمري په ۱۵مه ځناورو داعشیانو او طالبانو د سرپل ولایت صیاد ولسوالۍ میرزاولنګ کلي ونیوه او د رسنیو راپور پر بنسټ، له ۵۰ څخه زیات ولسی وکړي یې په ځناوریزه توګه ووژل او په لسګونو بیوزله کورنۍ یې برمته نیولی دي. داسې بې‌رحمې چې انسان ته د بامیانو په یکاولنګ کې ۱۳۷۹ کال د مرغومی میاشتې ټول‌وژنه وریادوی، خو دا ځل په خونړۍ توګه آن پر ښځو او ماشومانو هم رحم ونشو او د بې‌دفاع انسانانو سرونه پرې شول و جسدونه یې هم ټوټه ټوټه او په مردکیو وویشتل شول.

په افغانستان کې، ټول‌وژنه او نسل‌وژنه روانه ده چې هیڅ قوم او مذهب ترینه په امن کې ندی او زموږ له بیوزلو هیوادوالو څخه قربانی اخلی. دینی وینه‌څښونکی د خپلو امریکایي، پاکستاني، ایراني، عربستاني او ... واکدارانو په اشاره کوښښ کوی چې پر قومی او مذهبی لړکیو د ځناوریزو بریدونو په ترسره کولو، افغانستان هم د عراق په څیر د اور د نغري په څیر په مذهبي او قومي جګړو کی ښکیل کړي. خو له نیکه‌مرغه د ټولو قومونو او مذهبونو ډیر خلک دداسې ناورینونو قربانیانو سره خواخوږي لری او د ولس د نیکمرغۍ او یووالی له دښمن څخه ددوی کرکه، ددې لامل شوی چې د پردیو او د هغوی

د چوپړانو خوږ خوب په نهیلی بدل کړي. پر جوادیه جومات له برید وروسته د هرات شعیه او سنی باشعوره اوسیدونکو د پیوستون او یووالی څپې دښمن ته دا روښـانه پیغام ورکړ چې هیڅکله د هغوی شـیطانی او نفاق‌اچونکی دام کې نه را ښـکیل کیږي. یو شـمیر په اصطلاح جاسـوس روڼ‌آندی او خاین چارواکـی چې تل قومی او سـمتي توپیرونـو ته لمن وهی د تولنـی بیوزله او بی‌برخو وګړو د یووالی په څپه کی په ډوب شي.

کـه له یوې خوا دغـه جنایتونه زمونږ هزاره او شـیعه هیوادوال په کابل، هرات او میرزاولنګ کی په جوماتونو او کوڅو او کلیو کی په خاورو او وینو کی لړي، له بل پلوه پښـتنې او سـني کورنۍ په هلمند، پکتیـا او جلال‌آباد کی د هغـوی دی زړه ټوټو په ویر کی کښـینوي. لـه دې مخې، زمونږ هیواد د هغو وګړو په وژن‌ځای بدل شوی چې ټول ګډ رنځ لري.

د شـرمه ډکه خبره داده چې هغه ټول نامحترم چارواکی چې د خیانت او فساد او چوپړۍ له امله یی په هیواد کی د وینو سیلاب روان دی د میرزاولنګ له ټول‌وژنی څخه شـکایت او په «اندیښـنه» کی دي: ځایی امنیتی ځواکونه شـکایت لری؛ د سـرپل والی چیغې او کوکاری وهی؛ د دفـاع او کورنیو چارو وزارت هـم چیغـی وهی؛ عبدالله د تل په څیـر دا موضوع «وغندله» او غنی چیغـی وهی چې طالبان او داعشـیان له خپل حده اوښـتي دي او هغوی ته د درواغـو ګوت‌څنډنـه کوی او ناتو ددوی بادار هم ګواکی د سـرپل له ناامن وضعیت څخه اندیښـنه لری او عالمانه نوښـته ته رسیدلی چې «تاوتریخوالی او ویجاړي د افغانستان د پرمختګ خنډ ده.» ټول له غیبی لاس څخه ګیله لری چې ولی له مریخ نه رانغی او د میرزاولنګ اوسـیدونکی یی ونه ژغورل. دلتـه «د کـور خاوند هم وای خدایه، او غل هم وای خدایه!» زمونږ د هیواد د هـر غړي ځواب لاسـپوځي غنـی ته دا ده: ته هغه وخت لـه خپل حده تیر شـوی چې جنایتکار دوسـتم دی خپل مرسـتیال وټاکه؛ دو سـري حکومت دی د امریکا دایمی هډو شـرمناک تړون لاسلیک کړ؛ د مهربانۍ لاس دی د «شـمالی ټلوالې» جنایتکارانو پر سر کش کړ؛ جنایتکاره طالبانو ته دی ورور ویلـی؛ د کابل قصـاب، راکتیار دی د اویازره کابلیانو پر جنازو د ناوې په څیر بدرګه کړ؛ د اتمر په څیر خادیسـت دی په غیږ کی ونیوه؛ په داسـی حال کی چې د هیواد رنځیدلی وجود په وینو او ویجاړۍ کی ډوب دی ستا درد یوازې داده چې څو تنه پلورل شـوی د بویناک دولت په مهمو څوکیو کی وټومبې؛ او....

عطا خپل پخوانی روزل شوی د ظاهر وحدت په نوم یې د سرپل والي په توګه ټومبلی دی، د خلکو امنیت په ټینګولو کې ناکام راتللو د خجالت پر ځای، یواځې ارګ په لوری یې نښه نیولې او دغه ځناورتوب د قلنګ اخیستولو لپاره ښه زمینه ګڼي. چیرته دي عطا، محقق، دوستم، صلاح‌الدین او نور کاغذي «ژغورونکي» چې د «میلیوني لاریون» باتې وهي ترڅو د میرزاولنګ خلک له طالبانو او داعشیانو څخه «وژغوري»؟! چیرته دي د ننګرهار بدمعاشان، ظاهر قدیر، میرویس یاسیني، حضرت علي، امان‌الله خیري او نور ترڅو «ولسي یووالي» یې د سرپل په لور سیخ کړي او د خلکو فریاد ته ورسیږي؟! چیرته دي سیاف، قانوني، اسماعیل، ارغندیوال او نور د «ساتنې او ټیکاو» جنایتکاران ترڅو د سرپل خلکو ته ټیکاو راولي او له بیوزلو خلکو څخه «ساتنه» وکړي؟! او چیرته دي کرزي د لاس مړزان لکه سپنتا، نبیل، نجفي، براهوي او نور چې په بې‌شرمۍ سره ځانونه د «خلکو محور» اپوزیسیون ګڼي خو د میرزاولنګ ناورین پر وړاندې تیره او لوټه ګرځیدلي دي. ددغو ټولو ناتارکونکو او معامله‌کونکو درد یواځې څوکۍ او ډالر ده له همدې امله ددغو پلورل شویو وجدان د ولس وینو ویالو په لیدلو هیڅ ټکان نه خوري.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د میرزاولنګ له پاتې شونو سره د خواښوږۍ ترڅنګ، د هیواد پر ټولو ویرجنو خلکو غږ کوي چې ددې خاورې هر ګوټ میرزاولنګ ده. هیڅ بهرني نیواکګر او د هغوی کورني چوپړان، مونږ د بربریت او جنایت له دغه ګړنګ څخه نه ژغوري ځکه دوی خپله ددغه ګډوډ وضعیت اصلي عاملان دي. زمونږ خلاصون او ژغورنه د ځناورو نیواکګرو بهرنیانو او بنسټ‌پاله او غیر بنسټ‌پاله ځناورو لښکر پر وړاندې د هیواد د ټولو ملیتونو، ژبو او مذهبونو در په دره ستم‌کښو په سرتاسري یووالي کې نغښتې ده.

**د پوهې په لاسته راوړلو او سرتاسري خوځښت سره، ددغو ځناورو پر مخ کلک سوک شو!**

## د افغانستان همبستګۍ ګوند

۱۳۹۶ کال د زمري ۱۸مه – ۲۰۱۷ کال د اګست ۹مه



لیکونکی: نیک‌محمد پایدو

# په تخار او بدخشان کې د کارگرو ماشومانو ستونزمنو کارونو انځورونه



د افغانستان ماشومان همدا چې وکولی شي سم گام واخلي، باید کار وکړي او د خپلو کورنیو لگښت په چمتو کولو کې برخه واخلي. آن په هغه وخت کې هم چې د خپلې مور په گېډه کې وي، باید ډېرې سختۍ وگالي ځکه چې میندې یې د ناامنۍ او بې وزلۍ په چاپیریال کې ژوند کوي. زیریدنه یې هم په غیرمعیاری چاپیریال کې د بې‌پایه رنځ او درد سره ترسره کیږی. نجلۍ کیدل یې ستونزې ډېروي. سربیره پر دی، تنظیمي جگړې، د امریکا د دولت او همکارانو بریدونه او نیواک، د طالبانو او داعش بریدونه، ځانمرگي او چاودنې چې په ورځنۍ چارو باندې بدلې شوی دي، د دې خاورې میلیونونه ماشومان یې یتیمان کړی دي چې د افغانستان په ټولنه کې په عمده توگه د کور نفقه‌راوړونکې دی؛ له دی مخې، د دغه بدمرغه هیواد تنکې ماشومانو په لاسونو کې د پنسل، کتاب او لوبو سامان پرځای لور، څټک او تبرگې راخیستې تر څو یوه مړۍ ډوډی لاس ته راوړی. په ښارونو او کلیو کې ماشومان، د ژوندانه بې وزلۍ او ناداریٔ سره لاس او گریوان دي.

په لویو ښارونو کې، ماشومان په نانوایی، مستری‌خانه، هوټل، زرگرۍ، ټټاری، ترکانۍ، پښتگری، خوره سازی، کلچه‌پزی، نایي‌خانه، مسگری، درزی‌خانه او نورو ځانگو کې د شاگرد په توگه کارکولو ته اړ دی. زیاتره یې په هټیو کې د کارکولو ترڅنگ، د استاذانو په کور کې درانده کارونه کول ته لکه

کور ته سودا راوړل، د چت څخه د واورې پاکول، د څارویو لپاره د وابنو او څړځای چمتو کول او پاککارۍ ته هم اړباستل کیږی. دا ټول درانده کارونه، تقریبا ورځیا د دوه وخته ډوډۍ ترلاسه کولو، هره اونۍ لږی پیسې ترلاسه کولو او د کسب زدکړی په بدل کې ترسره کیږی. سربیره پر دې، ماشومان په ګرځندخرڅلاو، جوالۍګرۍ، ریړۍ په ګرځولو، موټرو په پریمنځلو، ترکاری په خرڅولو، بوټانو په رنګولو او لسګونو نورو کسبونو باندی بوخت دی. په کلیو کې هم وضع ډیره ښه نه ده. هغوی باید د شپون، مزدور (په شمال کې په خورته باندی مشهور دی) او بزګر په ډول کار وکړی او د خسو په راټولو کې برخه واخلې.

د ماشومانو جنسي ځورونه، د پاکستان په مدرسو کې زدکړه او د کوڅو ماشومانو ستونزې د هغوی په وړاندی له نورو خنډونو څخه دی چې جلا پلټنې او لیکنې ته اړتیا لری. د ماشومانو بې‌وزلی او بدمرغۍ د افغانستان ټولو ملیتونو ځیګر ټوټې په برکی نیسی. د هغوي ستونزی او لالهاندی د هغوي په قوم او ملیت پوری اړه نلری او د کورنیو اقتصادی وضعیت یی تعیینونکې دی. ځینې انځورونه تاسو ته در استوم چې په بدخشان او تخار کې د ماشومانو ستونزمنو کارونو آزانګه کوي:




HAMBASTAGI.ORG


HAMBASTAGI.ORG


HAMBASTAGI.ORG

پښتو ۱۰ مه ګڼه، اوړی ۱۳۹۶



لیکونکی: رحمت‌الله زیارکښ

# د خښتوپخولو په بټیو کې د کارګرانو ستونزمن ژوند




د خښتوپخولو بټیو کارګران د نورو زیارکښانو په شان د ستونزو او کړاونو څخه ډک ژوند لری. هغوي اړ دي چې د سهار په ۳ بجو له خوب څخه راپاځیږي او د ننګرهار په ربړونکې اوړی کې د سوځیدونکې لمر لاندي د غرمې تر ۱۱ بجو کار وکړی. دغه کارګران په خپل ژوند کې د څو جوړو جامو او یوه دوه بړستنو او توشکو څخه پرته بل څه نه لری.دوي، کله ناکله د خپل مزد ډیرولو لپاره لاس په اعتصاب پوری کوي، خو دغه اعتصاب د منشی او ټیکه‌دار (منشی او ټیکه‌دار هم له کارګرانو له ډلې څخه دي خو په لوړ امتیاز او تنخوا سره) په جوړجاړي سره له ماتی سره مخ کیږی.

د کورنې ښځې هم د رڼا تر خپریدلو پوری د خپلو کورنیو سړو سره مرسته کوي، هغه وخت چې د هوا په تیاره کې پردي سړی نه شي کولی هغوي ووینې. د کورنیو لږ عمر لرونکې ماشومان او زاړه سړی هم د توپو(د خټو غونډارو) په جوړولو کې مرسته کوي، خو د دغه ټولو ستونزو په زغملو سره بیا هم د هرکال په تیریدلو سره د هغوي پر رنځیدلو اوږو باندي پوروونه ډیر کیږی.

د نورو سیمو سر بیره، د خښتوپخولو ځینې بټۍ د جلال‌آباد ښار تر څنګ د چهارباغ صفا په سیمه کې پرتې دي چې ګڼ شمیر کارګران په هغه ځای کې د یوی مړی ډوډۍ پیدا کولو باندي بوخت دي. د نوموړو کارګرانو کورنۍ

په خټینو کورونو کې چې د «ګودی» په نامه یادیږی ژوند کوي چې غوجل ته ډیر ورته‌والې لری. د خښتوپخولو په دغه بټۍ کې، شاوخوا ۱۵۰ کارګران په کار بوخت دي او د ټیکه‌دار، منشی او د بټۍ خاوند له ناوړه چلند څخه نیوکه کوي. هغوي وايي چې منشی او ټیکه‌دار د بریښنا له آسانتیاو څخه برښمند دي خو هغوي ته يي نه ورکوي. د خښتوپخولو بټۍ خاوند د کال په پیل کې، کارګرانو ته پور ورکوی چې د کال تر پایه د هغه په ګرو کې پاتي کیږی او که چیری کوم کارګر د کال په اوږدو کې د هغې په ورکولو ونه توانیږی، اړ دي چې له قرض پرته، د هغې سود هم ورکړی.

معمولا د خښتواچولو په یوی برخې کې ۴ کارګرو ته اړتیا ده. یو تن باید خټه چمتو کړی، دویم کارګر باید توپه جوړه کړی، دریم کس سانچه (قالب) اچوي او څلورم خښتې لیږدوي. په اوسط ډول، دغه ډله په یوه ورځ کې ۲۵۰۰ خښتې اچولې شي چې د زر خښتو بیه، ۷۰۰ پاکستانې کلداری ده.




**رحیم الله او سمیه**

له دغه کارګرنو څخه یو تن، رحیم‌الله چې د خپلې ۱۱ کلنې لور وسیمې سره یوځاي په خښتو اچولو باندی بوخت دي. د ډیرو پیسو لاس ته راوړلو لپاره، هغوي اړ دي چې د څلورو کسانو کار په یوازې توګه په خپله وکړی. رحیم‌الله هر ورځ د شپې له خوا خټه چمتو کوي او د ګهیځ په دری بجو د کورنې له ښځو سره یوځاي راوځې او خښتې اچوي. د هوا په روښانه کیدلو سره، ښځې کورونو ته را ګرځې او د غرمې تر ۱۱ بجو وسیمه د خپل پلار سره مرسته کوي. وسیمه او د سیمې نور ماشومان د زدکړې او ښوونځې

څخه پرته ژوند کوي.

په همدغه ډول، لس کلن محب‌الله او یولس کلنه شکیبا دغه ټول درانده کارونه په یوازې توګه ترسره کوي. شکیبا وايي:

«زموږ د کورنۍ اقتصادي وضعیت ډېر خراب دي. په ډېرو سختو شرایطو کې ژوند کو. ډېری وخت په وږی نس سره کار کولو ته راځو. له زدکړي سره مینه لرم، خو اقتصادی ستونزي راته دغه اجازه نه راکوي چې ښوونځې ته ولاړه شم. اړه یم چې د یوې مړۍ ډوډۍ لاسته راوړلو لپاره کار وکړم.»



نعیم

د اور بلوولو د څانګې کارګران د «جلیمار» (اردو کلمه په معنا د «اوراچوونکې») په نامه سره یادیږي. د هغوي کار د خښتوپخولو په بټۍ کې د ډېرو سکاره، ربړ او د زړو ټیرونو اچول دي. د ډېرو سکارو او ربړ لوګي تنفس کولو له امله، د دوي څخه یي ډېری په تنفسی ناروغیو اخته کړي دي. کار یی سخت دي خو مزد یي لږ. دوي په میاشتنې ډول سره ۱۳ زره کلداری مزد تر لاسه کوي. د اوراچوونکو څخه یو تن، نعیم وایی:

«زموږ کار دروند دي خو مزد مو لږ. د لوګي له امله په ډول ډول ناروغیو باندي اخته شوي یو. زموږ د کورنۍ اقتصادی وضعیت ناوړه دي، په دغه لامل خپله درملنه هم نه شو کولی. په دغه تنخوا سره د ژوند پر مخ وړل هم ستونزمن دي.»

په خپلو وروستیو خبرو کې، د خپل ټیکه‌دار څخه په زاریو سره د خپل ځان او نورو د مزد ډېرولو غوښتنه کوي.

د دوي تر څنګ، دوه نوري ډلې هم د خښتوپخولو په بټیو کې خولی تویوي: خرکاران او «نکلي‌مار» (اردو کلمه په معنا د «خالی کونکې»)
خرکاران چې ټول غریب او بې‌وزله ماشومان دي په لږ مزد سره د میدان

څخه خبستې راټولوي او بټۍ ته يې د پښولو لپاره وړي. دوي ټوله ورځ په خاورو او دوړو کې په چاودلو لاسونو او خپو سره کار کوي، خو د ژوند وضعيت ورځ تر بلې د خرابېدلو په لور ځي. د دروند کار وخت ډېروالی پر بنسټ، دغه ماشومان هم له زدکړو څخه بې برخې دي.

«نکلي‌مار» هغه کارګرانو ته ويل کيږي چې پخې خبستې له بټۍ څخه بهر ته ليږدوی. په دغه برخه کې هم لږ عمر لرونکې ماشومان زيار اوباسي چې د لومړنيو چوپړتياو په نه شتون سره، يي هر ورځ تنکې لاسونه او خپې سوځي.

۱۷ کلن، خالد، چې يو وخت د يولسم ټولګې زدکوونکې وه، دمګړۍ يې د اقتصادي ستونزو پر بنسټ زدکړې پريښې دی او وايي:

«په ډېرو ستونزو سره مې تر دی ځايه زدکړه وکړه. زموږ د ژوند وضعيت بنه نه دي خو هڅه کوم چې ډېر کار وکړم تر څو زدکړو ته ادامه ورکړم. په راتلونکې کې غواړم چې ډاکټر شم او خلکو ته وړيا خدمت وکړم.»

هغه هيله چې خالد او د دغې خبستوپخولو بټۍ نور کارګر ماشومان او تنکی‌ځوانان يې په خوبونو کې لاس او ګريوان دي. خو د دغه ډول خاينو او ولس‌غولونکو دولتی چارواکو په شتون سره، د دغه وني ميوي پخيدل ناشونې کار دي.






د خښتوپخولو بټۍ خاوند د کال په پیل کې، کارګرانو ته پور ورکوي چې د کال تـر پایـه د هغـه په ګرو کې پاتي کیږي او که چیرې کـوم کارګر د کال په اوږدو کـې د هغـې په ورکولو ونه توانیږي، اړ دي چې له قرض پرته، د هغې سـود هم ورکړي.






خرکاران چې ټول غریب او بېوزله ماشومان دي په لږ مزد سره د میدان څخه خښتې راټولوي او بټۍ ته يي د پخولو لپاره وړی. دوي ټوله ورځ په خاورو او دوړو کې په چاودلو لاسونو او خپو سره کار کوي، خو د ژوند وضعیت ورځ تر بلې د خرابیدلو په لور ځي. د دروند کار وخت ډیروالی پر بنسټ، دغه ماشومان هم له زدکړو څخه بې برخې دي.



پښتو ۱۰ امه ګڼه، اوړی ۱۳۹۶



لیکونکی: فیروز

# د کابل په واټونوکې د شورای نظار لنډغری او ځناورتوب




د وږی په ۱۸، د احمدشاه مسعود د مړینې په کلیزه د کابل خلک د تنظیمی ځناورتوبونو د کلونو جټکه یو ځل بیا تجربه کوی. شورای نظار پوری اړوند یو شمیر سرغړونکې کسان په مستی او ځناورتوب سره په ټول ښار کې وګرځیدل چې د کابل ښاریانو لپاره د ستونزو او اندیښنو لامل شول. هغوي ډیری په هوایی ډزو لاس پوری کوي پرته له دې چې امنیتې ځواکونه د هغوي مخه ونیسی او آن تر دی چې ځینې نظامی او دولتی ګاډي هم د دوی په کاروان کې لیدل کیږي. دوی چې د مسعود لپاره د وېرنه تر نامه لاندي واټونو ته راوځې، د دوی حرکتونه ډیری جشن او نڅا ته ورته والی لری.

د ورځې په لومړنیو ګړیو کې، د دغه کوځه‌ډبو له ګاډو څخه یو یې په خیرخانه کې دری تنه ماشومان لاندي کوی چې په ډیر ناوړه وضعیت کې روغتون ته ولیږدول شول.

دغه له ملنډو ډکی او کوځه‌ډبې ننداری په خورا سترو لګښتو سره «د احمد شاه مسعود بنسټ» او جمعیت اسلامی پوری اړوندو تنظیمی قومندانانو له لورې څخه د ځواک ښودنې په موخه په لاره اچول کیږې. مګر د کابل خلک د دغه ډول انسانی‌ضد مستیانو څخه داسی کرکه لری چې دغه ځان‌ښودنه تر هر څه وړاندی په عامه افکارو کې مسعودیان د سرغړونکو او له انسانی تربیت څخه لری عناصرو په توګه ثبتوی.

ملـی اتـل هغه څوک دی چې د ټول هیـواد خلکو په زړونو کې ځای ولری او پر ولس باندې د منلو لپاره دغه ډول ځورواکیو او پیسو ته اړتیا ونلری.











لیکونکی: مریم مروه

# آزادي غوښتونکي رهبران چې د سی.آی.ای له خوا ووژل شول

«واشـنګتن هر څه دمخه د هغه ریښـتنې انسـانانو څخه چې ځان پلورونکې نه دي، کرکه لري.»
پل ګریک، د ریګن د ادارې مالې وزیر مرستیال



د امریکا زورواکی دولت د دریمی نړۍ پـه هیوادونو کـی خپلـو موخـو تـه د رسـیدلو لپـاره یوازینې لاره د ملـی او هیوادپالـو ځواکونـو او رهبرانـو لـه شـتون څخه د صحنې په تشول بلی ځکه په دې ښه پوهیدلی چې ملی او مبارز عناصر د اوسپنیز دیوال په څیر د هغوي د ویجاړونکو لاسوهنو خنډ ګرځي او په هوسـاینې سـره نه شـي کولي یو شمیر عزتمنده کسان د پیسـو او چوپړتیاو په بدل کې وپیري. په همدې لامل، په هر هیواد کې چې هغوی د لوټ او لاسـوهنې نیت ولری روڼانـدو او ملـی او آزادي‌غوښـتونکي رهبرانو ترور د هغوي کړنلاره په سـر کـې ځای لری خو برعکس، هغه څـه چې په خپل هیواد کې هم تجربه کوو، له ځان‌پلورونکو او جاسوسـو مشـرانو څخه په بشپړو چوپړتیاو ملاتړ او پلوی کوی.

زه د بیلګـې پـه توګه د نړۍ څو تنه سـترو رهبرانو نومونه در په ګوته کوم چې د امریکا څارګر سـازمان له خوا په بیلابیلـو هیوادنو کی د ترور او توطئه لاندی راغلې دی.

## سلوادور آلنده


سلوادور آلنده

سالوادور آلنده په ۱۹۷۰ کال کې د شیلي په ولسمشری ټاکنو کې کټونکې شو. هغه د شیلي لومړی دموکرات ولسمشر شمیرل کیږی چې واک ته د رسیدلو څخه وروسته د خپل هیواد پرمختګ او ودې لپاره یی پراخه کړنلارې په مخ کې لرلې ډیری صنایعو څانګې یی ملی اعلانی کړی. هغه هڅه کوله خپل هیواد د تړاو او بیوزلې څخه وژغوری.

امریکا چې د هغې څخه د ګوابن احساس کاوه، د ۱۹۷۳ کال د سپتامبر په ۱۱ نیټه د یوی کودتاه په لاره واچوله د خپل لاسپوڅې جنرال پینوشه په واسطه یی، آلنده او یو شمیر ملی او عدالت‌غوښتونکې شخصیتونو یی ووژل او یو پوځي دیکتاتوری رژیم یی د سی.آی.ای د مستقیم نظر لاندی په هغه هیواد کې واکمن کړ.

## محمد مصدق


محمد مصدق

په ۱۳۲۸ کال کې د ایران د نیواک‌ضد او ملی رهبر محمد مصدق د هڅو پایله وه چې «د ایران ملی جبهه» تاسیس شوه او د هغې اصلی موخه د استعمار په وړاندی مبارزه او د ایران د نفتو ملی کیدل وو.

په ۱۳۳۰ کال کې مصدق د صدراعظمی مقام ته ورسید او په لومړني ګام کې یی د نفتو صنعت ملی کړ چې د لویدیځ د نفتو لویو شرکتونو او په ځانګړی

توګـه انګلسـتان تـه کلک ګوزار وو. پـه همدغه لامل د نومـوړی حکومت د نسـکورولو طرح د سـی.آی.ای او د انګلستان ځارګرو بنسټونو له خوا په لاره واچول شـوه. په پایله کی د ۱۳۳۲ کال «د زمري ۲۸» په مشـهوری کودتاه کـې د امریکا یو شـمیر مریانو له خوا دجنرال فضل‌الله زاهدی په مشـرتابه، د مصدق دولت نسـکور شـو. مصدق ونیول شـو په محکمه کې د تل پاتي او مستندې دفاع سربیره، خپل پاتی ژوند یی په بندخونه او له هیواد څخه لری تیر کړ تر څو چې په ۱۳۴۵ کال کې سترګې له نړۍ څخه پټې کړی.

د مصدق له منځه وړلو لپاره چې سي.آی.ای کوم عملیات په لاره اچولې وو د «عملیات آژاکس» په پټ نوم سره ترسره شو. د دغې کودتاه په شپیتم کال کې، د «سیا» سازمان په هغې کې په خپله ونډه اعتراف وکړ اړ د امریکا ملی آرشیف له خوا څخه د هغې لاسوندونه د ټولو په واک ورکړل شول.

## هوګو چاویز

هوګـو چاویز د ونزویلا ملـی رهبـر چـې د ولس څخه راپورتـه او د غریبۍ تریخ خوند یی څکلې وو، ۱۴ کاله یی د خپلو خلکو د ژونـد بنـه کولـو لپـاره هڅـه وکـړه او د امریکا دسیسـو او چوپړګـرو پـه وړاندی یی ودریدنه وکړه.



هوګو چاویز

هغـه ورځ چـې نوموړی د ټول‌ټاکنـو له لارې واک ته ورسـیده، هیواد یی د امریکا مسـتعمره او ډیرۍ خلکو یی د بیوزلۍ کربښـې لاندی ژوند کاوه. هغه په میلیونونو ولسونو باندی په تکیه کولو سره بریالې شو چی د خپل هیواد د غریبانو د ژوند چارو بنه کولو لپاره ډیر اصلاحات راولی.

امریکا په دغه څوارلسو کلونو کې د هغه په وړاندی د هیڅ ډول ورانکاری، زهرجنو تبلیغاتو او آن د کودتاه څخه ځنډه و نه کړه. څرنګه چې چاویز کلکه ولسـي پایه درلودله د امریکا ټولې کرغیړنې دسیسی د ناکامی سره مخ شوی او هغه کودتاه چې د هغې په وړاندی په لاره اچول شـوی وه، په چټکې سـره

ماته شوه.

د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۶ نیټه د سرطان ناروغی د اخته کیدلو له امله مړ شو خو مرستیال یې، نیکولاس مادورو، په سرطان د چاوز اخته کیدل د هغه امپریالیستي دښمنانو کار وباله چې موخه یې امریکا وه.

## پاتریس لومومبا



**پاتریس لومومبا**

لومومبا د کنګو ملي غورځنګ ستر رهبر وه چې د بلژیک استعمار څخه د خپل هیواد په خپلواکۍ باندی بریالي شو. د ملي غورځنګ بریالتوب څخه وروسته، نوموړی د کنګو صدراعظمی ته ورسید او پراخه پرګرامونه یی د خپل هیواد ښیرازۍ لپاره درلودل. خو د لسو اوونیو څخه وروسته د «سیا» او د بلژیک دولت ګډې دسیسې له امله له واک څخه لرې او د خپلو دوه تنو وفادارو ملګرو سره یو ځای د ۱۹۶۱ کال د دسامبر په ۱۷ نیټه د بلژیک نظامی مامورینو په لاس ټوټې ټوټې او مړی یی تیزابو کی واچول شو.

## ارنستو چه ګوارا



**ارنستو چه ګوارا**

د کیوبا د انقلاب د نامتو رهبرانو څخه وه چې د باتیستا دیکتاتوری په ماتولو کې یي مهمه ونډه درلودله. هغه په ۱۹۶۵ کال کې هغه وخت چې د بولیوی کارګرانو د کیوبا انقلاب څخه په الهام

اخيستلو سره راپاڅيدلی وو د بزګرانو د رهبری لپاره بولیوی ته داخل شو. سی.آی.ای چې په بولیوی کې د هغه د شتون څخه ويريدلی وه په چټکې سره د هغه نيولو لپاره لاس په کار شول چې بالاخره د ۱۹۶۷ کال په اکتوبر کې هغه وخت چې د غورځنګ سمبالو په کارونو بوخت وو د «سیا» مامورینو له خوا ونيول شو او په ډزو وويشتل شو.

## فيدل کاسترو


فيدل کاسترو

فيدل کاستر د کيوبا د انقلاب رهبر چې په ۱۹۶۵ کال کې د ولسمشرۍ مقام ته ورسيد او تر ۲۰۱۱ کاله پورې په دې ځای پاتې شو. نوموړی د امريکا لاس په بشپړه توګه له کيوبا څخه غوڅ کړ او خپل هيواد يې په چټکۍ سره د ځان بسنې او پرمختګ په لور يووړ. موندنې ښايي چې «سيا» شاوخوا ۶۳۸ ځله د هغې د وژلو طرح په لاره اچولې چې هغه ټولې د ماتې سره مخ شوې دي. د سی.آی.ای دغه پيچلو طرحو لړۍ د ۶۳۸ مستند فلم کې يې ازانګه موندلې ده.

## عمر ترخيو (Omar Torrijos)


عمر ترخيو

امريکا په ۱۹۰۳ کال کې د پاناما کانال کيندلو او رغولو ترون (چې اتلانتيک او آرام سمندرګې يو د بل سره يوځای کوی) په زوره تر لاسه کړ او په ۱۹۴۱ کال کې يې د هغې کار پاي ته

ورساوه. پاناما تر ۱۹۸۹ کاله پورې نږدې ۶ ځله د امریکا نظامي یرغل لاندې نیول شوی وه. د امریکا پوځ د اوسیدونکو څخه د کانال شاوخوا سیمې تشولو لپاره په لومړیو کې د زېږی تبې پرازیټ په خپرولو لاس پورې کړ وروسته یې خپلې ۱۸ نظامي هډې په هغه ځای کې ځای پر ځای کړې.

عمر ترخیو د خلکو ملي ولسمشر کله چې د پاناما کانال په ملي کولو اقدام وکړ او هڅه یې وکړه چې هغه د امریکا د واک څخه لرې کړي، څو ځله د امریکا دولت له خوا وګواښل شو، بالاخره د ۱۹۸۱ کال د جولای په ۳۱ نیټه د هغه چورلکې ته د سي.آی.ای له خوا چاودنه ورکړل شوه. د ترخیو د ترور څخه وروسته ویني څښونکې او د سي.آی.ای چوپړ مانوئل نوریګا واک ته ورسید او په هغه هیواد کې د امریکا لاس په بشپړه توګه خلاص پریښودل شو.

## داکتر احمد سوکارنو


داکتر احمد سوکارنو

د اندونیزیا د نومیالیو ملتپالو او آزادي غوښتونکو څخه وو په ۱۹۴۵ کال کې بریالی شو چې خپل هیواد یې د هالنډیانو او جاپانیانو له استعمار څخه وساتي. اوس نوموړی د مډرنې اندونیزیای بنسټګر باندې مشهور دی.

نوموړی چې غوښتل خپل هیواد د ترقي او پرمختګ لور ته یوسئ د امریکا د سترګو په اغزی باندې بدل شو. د امریکا دولت د توطئې په پایله کې په ۱۹۶۵ کال د فاشیست سوهارتوی په امریکا کې د یو شمیر تحصیلکونکو په مشرۍ د دغه هیواد عدالتغوښتونکې او ملي دولت په وړاندې یوه کودتاه په لاره واچول شوه. چې په پایله کې یې شپږ نظامي جنرالان ووژل شو او کمونست ګوند د دغه وژنو مسئول معرفي شو. د سوهارتو په منځ ته راتګ، په هغه هیواد کې یوه پراخه ټولوژنه پیل شوه چې د سي.آی.ای په یو لاسوند کې د هغې څخه «د شلمې پیړی تر ټولو ویرونکې ټولوژنې» په توګه نوم وړل

شــوی دی. لېږ تر لږه ۵۰۰۰ تنه پرمختللي او چپ عناصر د هغه لیســتونو پر بنســټ ووژل شول چې ســی.آی.ای هغه ترتیب او د ســوهارتو سخت‌دریزه رژیم په واک کې ورکړی وو.

## جکوب آربنز (Jacobo Árbenz)


جکوب آربنز

د ګواتمــالا ملــی او نامتــو رهبــر وو چــې د ځمکو په اصلاحاتو ســره او د خپل هیواد بډیرازی لپاره یــی هڅه کوله چې د امریــکا لاس لنډ کړي. څرنګه چــې امریکا خپلې ګټې په دغه هیواد کې په ګواښ کې لیدلې، سی.آی.ای لاس په کار شوه د یوی کودتاه په لړکې د اربنز ټاکل شــوی حکومت نسکور شو. د سی.آی.ای یو لاسوند چې وروسته خپور شو، د کودتا په طرح کې د دغې ادارې ونډه بربنډه شوه.

آربنــز هغــه وخت یو نیــم میلیونه هکتــاره ځمګه ملي اعلانــه کړه چې د دغــه ځمکــو ډیره برخه یوی لــوی امریکایی کمپنی «یونایټــډ فروټ» پوری تــړاو درلوده. په دغه بنســټ امریــکا د هغه هیواد پایتخت بمبــار کړ او خپل لاسپوځی کاستیلو آرماس یی واک ته ورساوه.



لیکونکی: تیمور

# د افغانستان سپورټ په تاریخ کې د خواشینونکې پیښې جزییات



د افغانستان ورزش په تاریخ کې د خواشینونکو پیښو څخه یو د بشیر بغلانې (د فراه او بغلان والي و او په ۲۰۰۷ کال کې د زړه ودریدلو له امله مړ شو.) د ګلبدین جنایتکار بانډ قوماندان له لوري په کال ۱۹۸۰ کې د د داعش‌یانو په څیر د افغانستان دملي هاکي ټیم د غړو وژنه ده. په دغه پیښه کې ۲۴ لوبغاړو څخه یوازې پنځه تنو خپل ځان وژغوره او دا د هاکي ټیم د له منځه تللو لامل شو چې تر نن ورځ یې بیاځلې سر راپورته نه کړ. د روسانو چوپړ دولت په هغه وخت کې وغوښتل له دغې پیښې څخه تبلغاتي ګټه پورته کړي، د هغې پر بنسټ یې په ناقصه توګه یې ورته انعکاس ورکړ خو د هغې زړه‌بوږنونکې واقعیت تر اوسه پورې پټ پاتې دي. پرچمیانو د دې پیښې پټولو سره لومړی کوښښ وکړ چې خپله بې‌کفایتي او کمزورتیا په دغه ډول مسئلو کې پټه کړي، له بلې خوا د ټیم ټول غړي نه خلقیان، نه پرچمیان او نه د روسانو مزدوران وو، د دې له مخې د پردي خلکو په څیر ځانونه یې د هغوې څخه ملاتړ لپاره اړ نه ګڼل.

پخوا د کرزي لاسپوڅې رژیم او نن ورځ د ع او غ حکومت د بشپړ کلکسیون په څیر د ټولو لړیو جنایتکاران د خپل ځان سره راټول کړي او د جنګي جنایتکارانو د شړیدلي پرتوګ پورته‌کولو پرته بله دنده نه لري، هیله تري نه کیږي، آن تر دې چې له دغې ورزشي غمیزې څخه په یادونه وکړي.

د «افغانستان همبستګۍ ګوند» د خپل هیواد او خلکو او په ځانګړې توګه د هاکي ملي ټیم نوموړکو او بې کفنه شهیدانو په وړاندې خپلې دندې ترسره کولو لپاره، د قضيې شا ونیوله او وروسته له پراخو هڅو د دغې پیښې د پنځه تنو ژوندي پاتو څخه یې یو تن وموند د پیښې تفصیل د هغې له ژبې څخه نقل کړې.

## د دغه ځناوریز جنایت بشپړه لړۍ د یو تن ژونديپاتی له خولې

د ۱۳۹۵ کال د اورې په منځ کې زموږ د هاکي ملي ټیم د یو شمیر لومړنیو سیالیو ترسره کولو لپاره تاجکستان ته روان شو تر څو وکولای شی د مسکو په نړیوالو المپیکی سیالیو کې چې د هغې څخه څو میاشتې وروسته ترسره کیدلې، ګډون وکړی. موږ په هغه هیواد کې څلور سیالۍ ترسره کړی او وروسته له درې اونیو د غویي په دویمه نیټه (۱۹۸۰ کال د اپریل په ۲۲) د شیرخان بندر له لاری د کندز ښار ته راغلو او په یو هوټل کې ځای په ځای شو (تاجکستان ته د تللو پر مهال مو هم ځمکنۍ سفر کړی وو). څرنګه چې د لاری امنیتي وضعیت ښه نه وو دوه شپې هلته پاتې شو، د ټیم غړو ځمکنې سفر ته رأی ورنکړه، پریکړه مو وکړه چې په خپل لګښت د چارتر آلوتکې له لاری کابل ښار ته ورننوځو. زموږ دغه وړاندیز د کندز والي له خوا و نه منل شو، د ځمکې د لارې د حرکت امر یې راکړ چې د ټول ټیم د غړو د خواشینې لامل شو. والي ۳۰۲ یو بس یې زموږ په واک کې راکړ.

موږ ټول د رئیس، مرستیالانو، هندی روزونکې او د ټیم دغړو په ګډون په ټوله سره ۲۴ کسه وو؛ د سهار ۹ بجو په شاوخوا یو بس چې د دوه مردکې ضد ګاډو «بیردیم» ډول ( یو مخکی او یو وروسته) وو اسکورت کیده، د کندز له ښار څخه مو حرکت وکړ. ۱۰ کیلومتره د کندز ښار څخه د پلخمری په لور مو واټن وهلی و چې د سهار ۹:۳۰ بجې ناڅاپې ۴ وسلوال کسان چې د خپلو ۳۰ تنو په شاوخوا ملګرو په واسطه ترینه ساتنه کیدله، د جرخشک په نوم سیمه کې یې زموږ ګاډی ودراوه. مخکینې «بیردیم» په ډیر چټک سرعت سره له موږ څخه واټن اخیستې وو او د دویم «بیردیم» نه پوهیږم چې په کوم لامل خبر نه شو او موږ یواځې او یواځې په میدان کې پاتې شو.

دغې ډلې له مخکې څخه مالومات لرل چې زموږ ټیم د ځمکې له لارې د کابل په لور حرکت کوی، څرنګه چې موږ دوه ورځې او دوه شپې په کندز کې

پاتې وو او زموږ د سفر خبر بهر ته درز کړی وو.

کله یې چې زموږ بس ودراوه، د سړک له لاری ګینې لور ته یوړل شو. د دولتی کسانو څخه دوه تنه یو د شیرخان لیسه مرستیال او بل یې یاور صالح محمد زیری چې دواړو سره تمانچې وې له موږ سره ول.




**شوروی ته د خپل سفر څخه مخکې د افغانستان د هاکې ملی ټیم یوځایې انځور**

زموږ څلور خواوی د وسلوالو له لوری محاصره شوی وی چې شمیر یې د ۳۰ څخه تر ۴۰ کسانو ته رسیده. موږ یې یو یو تن لاسونه د غاړې تر شا له بس څخه راښکته کړو. په دغه وخت کې یاور زیری په خپله تمانچه له ډیر نږدی څخه یې د وسلوالو یو تن وویشته. د وسلوالو له خوا بی له ځنډه د اوربل امر واوریدل شو. د مردکیو باران پر موږ ووریده. زه او زما یو شمیر هم‌ټیمیان چې لږ څه د عسکری تکتیکونو سره بلد وو پروت مو وکړ او پر دغه بنسټ مو زیان ونه لیده.

درې کسان هر یو حاجی سمیع حمیدی- د ټیم مرسته‌کونکې، محمد امان- د ټیم مرستیال او محمد علی- د ملی ټیم لوبغاړی ځاې په ځاې پر شهادت ورسیدل. او زموږ یو تن ټپی شو. یاور زیری او شیرخان لیسې مرستیال دواړه له مقاومت څخه وروسته، چی کالتوس یی خلاص شوی وو ونیول شو او هغوي یی په لنګې وتړل او وروسته د یو توت ونې لاندي په ډزو وویشتل.

یو تن زما د هم‌ټیمیانو څخه د شیرخان په نوم چې د نورستان څخه وو د موقعې څخه په ګټه اخیستنې په یو ځټک حرکت داسې ونې ته وختله چې هیڅ یو تن وسلوال و نه لیده او په دغه ډول وژغورل شو.

له وهلو ټکولو او ویشتلو او د دوه تنو اعدام وروسته، نور یې د خوړ لوری ته بوتلل. تر یو وخته مو پلی مزل وکړ، وروسته تر هغې یې د یو لښتې په خوا کې موږ ودرولو او زموږ د خلع سلاح کولو ډاډ لپاره، ټول یې په بشپړ ډول تلاشي کړل. پیسې او ساعت او ګوتمې یې ظاهراً د لیست په ترتیب ورکولو سره له موږ څخه واخیستل.

وروسته له یو کوچنې دمې، بیا موږ ته د حرکت قومانده راکړه او دا ځلې د هماغې سیمې ختیځ لور ته روان شولو چې د ورځې نژدی ۱۲ بجې شوی وی.

په دغه وخت کې د هغوی څو تنو د خلکو له کورونو په خپلو لمنو کې ډوډې راټوله کړه، زموږ لپاره یې راوړه. ډوډی زموږ له مرې څخه ښکته کوزه نه شوه. په هرحال، د ماسپښین د لمانځه آذان مو غوږ ته راورسید او موږ ته یې د ماسپښین د لمانځه د ادا کولو امر وکړ. مونځ مو په هماغه ځمکو کې چې شنه غنم یې ورو ته رسیدلې وو، ادا کړ. وسلوالو زموږ مونځ ویل د لید لاندې نیولې وو او ویل یې مونځ مو په سمه توګه ولولې. څرنګه چې له موږ څخه هیچا په لمونځ ویلو کې ستونزه نه درلودله، حیران پاتې شول.

بیا په نامعلوم لورې روان شو. وروسته له یو کړی څخه یوی کلا ته ورسیدلو چې یوه دیره یې درلودله. موږ یې دیرې ته ننیستلو. کلا نه بهر یو وستل یا د تفریح‌ځای د یو میدان په شان وو چې د هغې سیمې ځوانان او بوډاګان په هغې کې راټول شوی وو. ځکه آوازه یې اچولې وه چې موږ د روسانو یو ډله نیولې ده، ټولو زموږ د لیدلو تمه درلودله او ویل یې «په تمه اووسې چې قوماندان بشیر راشي وروسته له هغې به د دوي په لیدلو بریالې شي» موږ په دیره کې دغه جملې اوریدلې.

زموږ د ټولو حالت ډیر خراب وو. هیچا، تر دی چې یو جمله نه شوه ویلی. نه پوهیدلو چې موږ سره به څه کوی. ښکته سرونه، ټول په فکر کې تللې وو او تمه مو کوله چې قوماندان بشر راشې چې زموږ برخلیک وټاکې.

شاوخوا څلور بجې د مازیګر د لمانځه وخت وو چې قوماندان بشیر (په بشیر بغلانی مشهور، د ګلبدین د جنایت‌کارګوند د قوماندانانو څخه) راغې او

کوټې ته رانتوت. هغه موږ ټولو ته چې تاسې روسان یاستې خطاب وکړ، موږ وویل چې نه موږ افغانان یو. بیا یې پوښتنه وکړه چې څنګه روسې ته تللې وی. موږ وویل د هاکې سیالۍ ترسره کولو لپاره. هرڅه چې یې په ژبه راتلل، موږ یې ورټلو زموږ هر یو تن یې په جلا توګه د ځیرنې لاندې ونیوه. هغه هر یو ته د کوڅې او بازار په سطح ښکنځلې کولې او ملنډې ورباندې وهلې.

ډیری رنځونکې شیبې وې. د نوملړ په ترتیب یې یو یو کس راغوښته. لومړی به یې د هغوی د لرګې په وهلو ربړول چې کوکارې به یې موږ اوریدلې، وروسته د چره‌یزه ټوپک د ډز په غږ به یې آواز غلې کیده. هغه څه چې به زموږ ویښتان ودرول، دغه وو چې څو دقیقې وروسته هغه وخت چې به قاتلان خپل وروستې قربانې پسې راتلل، زموږ د هم‌ټیمی هماغه جامې او بلوز او کرمچ به یې په اغوستی وو. هغه کوکارې تر اوسه هم په خپلو غوږونو کې اورم.

د نوملړ په سر کې زموږ د هندی روزونکې جان سنګ نوم وو. هغه یې بیرون وویسته، وهل او ټکول پیل شو. هغوی د یو بل په ژبه نه پوهیدل زموږ روزونکې کوکاری کولی: «رحم کرو... میری بچی هی... رحم کرو، خدا کې واسطی...(رحم وکړی... زه اولاد لرم... رحم وکړی، د خدای په لپاره...)» عذر او زاری یې ګټه ونه کړه. څو دقیقی وروسته د چره‌یزه ټوپک په غږ، د هغه غږ غلې شو.

په همدغه ډول، دویم او دریم او څلورم کس: لومړی وهل‌ټکول، د مرګ څخه مخکې ویرونکې کوکاری او وروسته د چره‌یز د ټوپک ډز او د غږ غلی کیدل. وروسته د هغې څخه یې دوه، دوه تنه نور یې د نوملړ له مخې بهر ویستل. بیا هم وهل ټکول، کوکاری او وروسته بیا په ډزو ویشتل.

شپه شوه او د آذان غږ زموږ غوږونه ته راورسیده. زموږ په کوټه کې هم توره تیاره خپره شوه، همدغه قوماندان بشیر غږ وکړ چې «بس دی! نور بس دی!». څه وخت چې ربړونې او په ډزو ویشتل کرار شول، څلور کسه پاتې وو. داسې حالت مو درلودل چې د هغې ویل ستونزمن دی. اوس فکر کوم مرګ ته د تمې تریخوالی د مرګ د څکلو څخه ډیر ستونزمن وو.

قوماندان بشیر خپلې وسلوالې ډلې ته امر وکړ چې دغه څلور کسه پورته خوړ ته یوسی. دغه امر مې د خپل ځان سره داسې تعبیر کړ چې کیدای شي دغه د هغوي تر منځ د وژلو یا ژوندی پاتې کیدلو یو شفر وی. هغو ته چې یې ښکته خوړ ته لاربښونه وکړه ووژل شو، او موږ چې پورته خوړ ته وړی، ژوندی

پریږدي. په همدغه خیالـي او ځان‌غولونکي تعبیر سـره په تړلي لاسـونو د نامعلـوم برخلیک په لور روان شو.



# Afghans ambush team slated for Olympics

NEW DELHI, India (AP) — Afghan rebels ambushed and killed or captured several members of Afghanistan's national field hockey team, scheduled to compete in the Moscow Summer Olympics, according to a delayed report from Kabul received here Saturday.

The report, quoting survivors, said a bus carrying the team was stopped at ...

... took place, although survivors reached Kabul ... last week.

The attackers singled out the athletes, returning from competition in a neighboring Soviet Central Asian republic, and fired on the 18-member team, the report said. Some athletes were reported injured, a few escaped and the rest either were killed on the spot or taken prisoner by Moslem rebels, it said.

... to Kabul's schools ... a week of violent ... protests, it said. ... Underground leaflets distributed by banned nationalist, rightist and leftist parties opposed to the Moscow regime warned ... guerilla attacks, according to a report ... by The Associated ...

... leaflets all protested ... reported killing of 65 ... children during the anti-Russian demonstrations. The leaflets warned that if the shooting of ...

... armored vehicles blocked ...

The Tuscaloosa News
July 20, 1980

HAMBASTAGi.ORG

**ډی تسکالوسا نیوز (۱۹۸۰ کال د جولای ۲۰): بریدګرو پر لوبغاړو چې د منځني آسیا د شوروی د جمهوریتونو څخه له یو نه راګرځیدلي وو، برید وکړ. د راپور پر بنسټ، هغوي د لوبغاړو په لور ډزې وکړې چې په پایله کې شو تنه په هماغه ځای کې ووژل شو او یو شمیر ټپیان او نور یې بندیان نیولي دي. له دغه منځ څخه، یو کوچني ډله په تیښته بریالي شوی ده.**

موږ څلور کسه هر یو تـن جګړن محمد هاشم، ګل رحمـان، رحمت اللـه او عبدالباقي یـې د خپـل ځان سـره هغه لـور ته چې مـوږ یـې د ګاډي څخه ښکته کـړی وو، ویوړو. د لارې پـه اوږدو کـې یـو کـور تـه ورسـیدلو. د کور خاوند ته یې غږ وکړ چې څه دې پاخه کړی دي؟ په ځواب کې یې وویل چې د اوزې ښوروا لری. کور ته ننوتلو.



# Afghanistan's field hockey team ambushed; several feared dead

NEW DELHI, India (AP) — Afghan rebels ambushed and killed or captured several members of Afghanistan's national field hockey team, scheduled to compete in the Moscow Summer Olympics, according to a delayed report from Kabul received here Saturday.

The report, quoting survivors, said a bus carrying the team was stopped at gunpoint on a highway near Kunduz, a provincial capital about 230 miles north of Kabul, the Afghan capital. It did not say when the attack took place, although survivors reached Kabul late last week.

The attac... competition ... and fired o... athletes we... rest either were killed on the spot or taken prisoner by the Moslem rebels, it said.

Afghan rebels ambushed and killed or captured several members of Afghanistan's national field hockey team.

No bodies were recovered and none of the surviving field hockey players has made it to Kabul so far, said the source of the report, who has proved consistently reliable in the past. The source asked not to be identified, and independent confirmation was not immediately available. Western journalists have been barred from Afghanistan.

Afghanistan now is expected to send only a wrestling team to the Olympics. The Afghan soccer team, which had been slated to go, will not compete because seven of the top players recently defected to West Germany.

The United States and several other countries are boycotting the Moscow Games to protest the Soviet military intervention in Afghanistan, which began in late December.

... Kabul Sa... the Russ... patrolled ... vehicles ... of violent

Underground leaflets distributed by banned nationalist, rightist and leftist parties opposed to the pro-Moscow regime warned of urban guerrilla attacks, according to a report received by The Associated Press.

The leaflets all protested the reported killing of 65 schoolchildren during the anti-Russian demonstrations. The leaflets warned that if the shooting of students continued, urban guerrillas would come out on the streets with firearms.

... Karmal's ... Khalq (Peo... ing the total

The report said about 400 persons have been arrested, including 100 Kabul University students and instructors, and a number of Afghan soldiers and police who refused to fire on the young demonstrators.

The only reported Soviet casualty was an enlisted man who was said to have had both eyes put out by knife-wielding high school students in front of a large crowd.

The disturbances were the bloodiest in Kabul since last February, when Afghan government and Russian troops crushed massive anti-Soviet demonstrations, leaving an estimated 300 persons dead. Moscow sent tens of thousands of troops into Afghanistan more than four months ago to replace one pro-Soviet regime with another and help the Kabul government fight anti-communist Moslem guerrillas.

Reports corroborated by Western travelers arriving in New Delhi said many of the "mortally wounded protesters were schoolgirls between the ages of 12 and 17 who had organized a number of street marches, shaming Afghan Moslem men who live in ... society."

The Ledger
May 4, 1980

HAMBASTAGi.ORG

**ډی لیجـر (۱۹۸۰ کال د مـی ۴): افغان جنګیالیو د کمین په لړ کې د افغانستان د هاکي ټیم څو تنه غړی یې ونیول یا یې ووژل.**

ډوډۍ د ښوروا سره راوړل شوه. د یوی مړې ډوډۍ خوړلـو ځـواک مـو نـه درلـود. د ډوډۍ د خوړلو وروسـته یـې بیا مـوږ ته د حرکـت قومانـده راکړه. بالاخره یې یـوی بلـې حویلـې ته یـوړو چې ډیره لویـه خونـه یې د

انګریزي د ایل توري په شکل درلودله شاوخوا د سل کسان پکی ځایدل. کوټې د جوماتونو په شان ستنې درلودلې او د ډول ډول وسلهوالو کسانو څخه ډکه وه. همدغه کسانو له موږ سره ډیر سپک چلند درلود. او ځینو یی موږ ته اشاره کوله او ویل به یی چې تاسی مو د سینمای پامیر په لاریون او زرنګار پارک کې د ترافیکو د غرفې د پاسه یا په نور غرفو کې مو لیدلې چې وینا به مو کوله. موږ د هغوی د دغه درواغو په وړاندی چُپ وو.

بالاخره د هماغه مجلس څخه یو تن سپین‌ږیرې په خبرو کولو پیل وکړ او وی پوښتل چې څه ډول شوروی ته ولاړی؟ ولی؟ کوم ځاي ته؟ څه پایلې مو لاس ته راوړی؟ دهغوی پوښتنو ته د ځواب ویلو څخه وروسته، بیا یی دینی پوښتنې پیل کړلې، چې د پوښتنو څخه یی یوه دا وه آذان کولاې شی؟ ما ورته په ځواب کې وویل دکوم وخت آذان؟ ټول حیران شول. د وسلوالو څخه یو تن په پښتو ژبه


# Rebels reportedly slay Afghan athletic team

MOSCOW (UPI) — "Bandits" in Afghanistan ambushed and apparently slaughtered most of the Afghan national field hockey team and three survivors of the attack cha… ed to the … Olympics, …

"Bandits … ficial Sovi… guerrilla's … governmen…

Tass sai… given in Kabul Tuesday by three surviving members of the team, identified only as Mohammed Hashem, Rahmatullah and Shirhan.

They said the bus in which 22 field hockey team members and three other passengers were riding was attacked by gunmen on April 24 as they returned from a goodwill tour of the Soviet Union.

'Don't you know that America prohibited sportsmen (from coming to) the Olympic Games. Why did you go to the U.S.S.R.?' "

… issued a … ing of our … the Carter … otting the … nocent vic… of Carter

… did not explain the connection between the Olympic boycott and the alleged ambush of the team, which was not scheduled to compete in the Olympics. The Afghan Olympic contingent consists only of wrestlers, boxers, and track and field athletes.

"The blackmail and threats of the U.S. Administration have failed to hamper the holding of the Olympic Games in … the team members statement … 'Even … of the …

> They said the bus in which 22 field hockey team members and three other passengers were riding was attacked by gunmen on April 24 as they returned from a goodwill tour of the Soviet Union.

LODI NEWS-SENTINEL
July 16, 1980

HAMBASTAGI.ORG

**لودی نیوز (۱۹۸۰ کال د جولای ۱۶): ویل کیږی چې د اپریل په ۲۴مه پر یو بس چې په کې د هاکې ملی ټیم ۲۲ تنه او څو تنه نور سپاره وو، برید شوی.**

رټلې لهجه غږ وکړ چې «کوم وخت آذان یی څه شی دی؟» د مجلس سپین‌ږیرې پری غوسه شو او خپل هغه ځوان ته چې د دین څخه بی‌خبره وه خو ښکنځلو وروسته، ما ته وویل: «دوی ته یی روښانه کړه چې آذان په څو ډوله دی؟» ما ورته وویل د سهار لمانځه په آذان کې «الصلوةَ الخیر من‌النوم» ویل کیږی او په نورو آذانونو کې نه ویل کیږی. بیا غږ راغې چې: «دا کافر خو مسلمان دی»!

بیا هم بل کس پوښتنه وکړه او وویل دعای قنوت در ته یاده ده، ومی ویل الحمدالله ولی نه؟ غوښتنه یی ورکړه چې ویلوله. دعای قنوت مې ولوستله.

ټول حیران شول. فتوا یې ورکړه چې دغه انسان مسلمان دی باید په هغه جومات کې چې په کلي کې دی د امام په توګه له موږ سره وي. البته زموږ له درې تنه نورو څخه هم پوښتنې وکړې چې ځواب ورکړل شو

شپه پخه شوې وه. ټول وسله‌وال یې رخصت کړل، موږ څلور تنه یې د لوی دروازه تر څنګ په کوټه کې چې د دیرې په ډول وه، دننه کړو. سهار یې د ملا آذانونو په وخت کې له کوټې څخه بهر کړلو، د لمونځ له ادا کولو وروسته د څو وسله‌والو سره هغه لور ته لاړو چې شمال او سویل مو نشو ټاکلی. تر هغه چې یوې لوی کلاه ته چې د وسلوالو څخه ډکه وه ورورسیدلو او هر یو تن په موږ پورې ملنډې کولې.

د سهار چاې چمتو شو، ومو نشو کولی چې یوه مړۍ وخورو. له سهار څخه تر ماسپښینه بیا بې‌عقله پوښتنې، بیا هم رټل او د ژبې ټپ.

وسلوالو ته د ماسپښین ډوډۍ چمتو شوه. موږ ورسره یوځاې شولو. د ماسپښین لمونځ ولوستل شو. هغوی ټول ویده شول. یوازي یوه اوو کسیزه ډله یې د کلاه څخه بهر ناسته وه او مجلس یې درلوده. له نیم ساعته وروسته یو کس یې راغې او زه یې وغوښتلم او وویل چې تا پریږدو او دري نورو کسانو په اړوند به وروسته پریکړه وکړو. ما یې په ځواب کې وویل چې زه نه ځم، د دی لپاره چې دولت راباندې شک کوی. زما دغه دري ملګری هم بې‌ګناه دی، پرته له هغوی نه ځم. بیا یې وویل چې د نورو په فکر کې مه اوسه، بیا می وویل چې نه ځم.

امر یې راکړ چې کلا ته دننه لاړ شه. لاړم، هلکانو هریو له ما څخه پوښتنه وکړه چې څه خبره وو؟ هغوی ته می وویل هیڅ، یوازې می وویل چې پر موږ باندې خپله پریکړه صادره کړې چې زموږ برخلیک معلوم شي. په همدغه خبرو کې وو چې بیا هم یو تن یې د قاضي عبدالحمید په نوم چې هغه ته یې قاضي صاحب غږ کاوو، راغې او بیا یې یوازي زه وروغوښتلم او نور یې هیڅ یاد نه کړل، نه پوهیږم ولی.

په هر حال لاړم، وویل ولی د نورو څخه ملاتړ کوی؟ ومی ویل چې دولت به پرته له جزا څخه ما پرې نږدي. وروسته له څو نورو پوښتنو یې وویل چې قسم وکړه چې نور به له دولت سره کار نه کوم. ومی ویل چې سمه ده. بیا یې زه رخصت کړلم او د کلا په لور لاړم.

ملګرو می وویل چې بیا څه خبره وو چې ته یې دوه ځل وغوښتلي؟ ومی ویل زموږ د پریکړې په اړوند می ټینګار وکړ چې زموږ برخلیک روښان ندی.

د ماسپښین لمونځ د ترسره کولو څخه وروسته، زه یې وغوښتلم او وویل مبارک مو شه چې تاسو آزاد یاستی. د سبا څخه وروسته کولای شی خپلو کورونو ته ولاړ شی. دغه خبر می خپلو ملګرو غوږونو ته ورساوه. موږ ټولو څه د خوشحالي او څه هم د خپلو نږدی ملګرو د لاسه ورکولو له امله ډیر وژړل.

د مابنام لمونځ څخه وروسته موږ یې بلې کلا ته ویوړلو چې شاوخوا ۲۰ دقیقی واټن یی درلود. موږ ته یې ډوډۍ راکړه. د ډوډي له خوړلو او مابنستن لمونځ د ترسره کولو څخه وروسته د کور خاوند څخه د یوی قیچی غوښتونکې شوم ځکه چې زموږ د دوه تنو ویښتان اوږده وه، هغه مې واړه کړل.


د ۱۹۸۰ کال د جولای په ۱۶: په کابل کې د هاکي ټیم د ژوندی پاتو رسنیز کنفرانس (د کابل نیوز تایمز: څخه انځور)

تر سبا پوری ویښ وو. د سهار لمونځ مو تر سره کړ، د ډیری خوشحالي څخه د سهار چای ته هم پاتې نشو. څرنګه چې د لارې کرایه لپاره مو پیسی نه درلودلې له هماغې ډلې څخه چې موږ یې د سرک لورته بیولو، د پیسو غوښتنه وکړه. هغوی موږ ته پنځسوه افغانی راکړی.

موږ یې پریښودو. زه بیا لاړم چې د لاری تګ لپاره موږ ته یو لیک راکړی تر څو بیا موږ څوک و نه ځوروي. لیک یی هم راکړ او وویل چې تاسي ډیر طالعمند یاستی، په خیر لاړ شی. په لار روان شو چې یو ګاډی د کندز له لور څخه پلخمری ته روان وو. وروختلو. د سهار چاي مو په پلخمری کی وڅښکه، د مزار لین په ګاډی کې کابل ته راغلو. په ده افغانانو کې مو پاتې شوی پیسی په خپل منځ کې د ټکسی کرایه لپاره وویشلې او خپلو کورونو په لور روان شولو.

ډیر ستړي او ستومانه خپلو کورونو ته ورسیدلو. په کور او کلي کې مو ویر جوړ شوی وو. د بی‌بی‌سی راډیو د هاکی ملی ټیم غړی یی د وژل شوی په

ټولګه کې اعلان کړی وو او چا یقین نه کاو چې زه ژوندی بیرته راوګرځم.
په هماغه شپه له ځان وینځلو وروسته ویده شوم. د شپې لس یا یولس بجې وی چې زموږ د کور ور وټکول شو. میرمنې می زه له خوبه راپاڅولم او ویویل چې سالون ته دوه هندی کسان راغلې، غواړی چې تا ووینی. خواته یی لاړم وروسته له سلام کولو څخه هندی روزونکې په اړوند د هغو پوښتنو ته مې ځواب ورکړ. په پاې کې یی وویل ځکه چې هغه زمونږو ډیر یو مهم کس وو باید د هغه د ژوندی یا مړي څخه مو باید خبر اخیستی وی. هندی میلمانه له دو ساعته سوال او ځواب څخه وروسته لاړل.
د هغه ورځې په سهار، د ډاکټر خواته لاړم ځکه چې په خوب کې راباندی خپسه راتلله او ناوړه حالت می درلوده.
بله ورځ د دغې غمیزې پیښې د قربانیانو کورنې غړی مې خواته راغلل، د خپلو خپلوان څخه یی پوښتنې کولی چې د هغوي د برخلیک توضیح راته ډیره ګرانه وه. دغه نه هیریدونکې ماتم تر یوې اوونۍ پوری دوام درلود. خویندو او میندو یی ژړا او زاری کولې تر څو د خپل زړه ټوټو په اړوند د ژوندی پاتې کیدلو هیله‌مند کونکې خبرۍ له ما څخه واوری.
یوه اونۍ وروسته غازی استډیوم ته لاړم تر څو د المپیک کمیټې رئیس ووینم. د هغه سره د ستړی‌مشو کولو او څو سړو جملو د ویلو وروسته مو یو بل سره خدای پامانې وکړه. د المپیک رئیس سره د ساړه او رسمی ملاقات وروسته، سبا خپلې دندي ته لاړم. بی‌ساری ښه راغلاست می له خپلو همکارانو څخه ولید چې په ژوند کې مې یو بله شیبه وه.
خو د وخت رژیم نه یوازي بیرته وغوښتلو او کومه همدردی یی دغې پیښې سره ونکړه، برعکس هر اوونۍ یی موږ د یو یا دوه ساعتو لپاره د «خاد» مرکز ته راغوښتلو، څرګندونې کولی او موږ چې څه لیدلې وو ځواب مو ورکاوه. موږ ته یی څو کسه چې د سیمی څخه نیولی وو، ښکاره کول او ویل یی چې ووایه کوم یو یی دی. څرنګه چې می نه پیژندل ګوته می پری نه ایښودله.
دغه تنګولو تر یوی میاشتې دوام درلود چې بالاخره وویل، پلانکۍ ورځ به تاسې له خبریالانو سره کینې او پوښتنو ته به یی ځواب ورکوی. جوړه شوی رسنیزه ناسته او ننداره د ۱۳۹۵ کال د چنګاښ ۲۵ (۱۹۸۰ کال د جولای ۱۶) د دنیې او بهرنیو خبریالانو په شتون کې ترسره شوه. موږ په لنډ ډول خپل ځانونه ورو‌پیژندل. پوښتنې یوازی یو تن (شیرخان) چې موږ څخه

د پیښې په وخت کې ونې ته پورته شـوي وو او ځان یې ژوندي ژغورلې وو، قراردادی ځوابونه یې ورکول چې د مخکې نه ورته لیکل شوی وو.

له هغې ورځې وروسـته، بل کس زموږ او د هاکي ملي ټیم کیسـې ته رانه غلل. د افغانسـتان د ملي هاکي ټیم ملاماتونکي خواشیونونکې کیسه چې تر نن ورځې پورې په خپلو خپو ونه دریده، پټه پاتې شوه او ډیرې خلک له دغه دردناکه جنایت څخه بې‌خبره دي.

## یادونه او هیله:

کیدای شـي چمتو شوی راپور نیمګړتیاوي ولري ځکه چې لومړی د دغه جنایـت څخه ۳۴ کاله تیریږي او دویم موږ یوازې د پیښـې یو ژوندی‌پاتې ته لاس رسـې درلـود. په دغه بنسـټ له ټولـو هیواد پالو او پـه ځانګړې توګه د هیواد سـپورټ‌مینه‌والو څخه هیله کیږي تر څو د دغه راپور په بشـپړولو کې له موږ سره مرسته وکړي. که چیرې د ټولو ژوندی‌پاتو څخه د کوم یو تن پته لـري، پته یـې موږ ته راولیږي؛ که چیرې د هاکي ملي ټیم د شـهیدانو کوم انځور او یادښت او نښه په لاس کې لري، زموږ پتې ته یې راولیږي.




**د افغانستان هاکي ملي ټیم هندوستان ته د خپل رسمي سفر په حال کې**



لیکونکی: عزت الله ځواب

# له مینې مجلې سره د سیلۍ غفار مرکه




همبستګي ګوند څنګه راپېژنې! دا ګوند له نورو ګوندونو سره څه توپیر لري؟

د افغانستان د همبستګۍ ګوند د ۱۳۸۳ کال د وري په ۲۹مه نېټه د یو شمیر روڼآندو له لوری په کابل کی رامنځته شو. د همبستګۍ ګوند توپیر له نورو ګوندونو سره دادی چی اول خو یی لاسونه د چا په وینو سره نه دی او دوهم دا چی په دې ګوند هیڅ داسی یو کس نشته چی د افغانستان په ویجاړۍ او یا د بیوزله خلکو په رټلو او زورولو کی لاس ولري. دریم توپیر یی دادی چی تل یی د جنایکارانو محاکمه غوښتی ده او په دې لار کی عملی ګامونه هم اخیستی دی، لکه د غویی اوومې او اتمې او امریکایی جنایتکارانو محاکمه کولو لپاره یی لاریونونه هم په لاره اچولی دی.

له نورو ګوندونو سره زمونږ بنسټیز توپیر دادی چی کوم ځانګړي قوم او لوري پوری تړاو نلری او د ټولنې ټول قومونه پکی ګډون لری او په ګنو مسئالو کی پرته له معاملې او محافظه‌کارۍ خپل لیدلوری بیانوی او هیڅ بیروني قوت پوری ندی تړی. د افغانستان سیاست په ډېر کی ډیری ګوندونه د ډلو او کسانو د غوښتنو او یا د مافیایی تړاونو په اساس رامنځ ته شوی، خو زمونږ ګوند ددې لپاره چی ټولنې یو ولسې، پرمختللي او عدالت‌غوښتونکي او بنسټپالۍ او نیواک ضد ګوند ته اړتیا لرله، رامنځ ته شو.

تاسـو څه وخت سیاسـي مبارزه پیل کړه او د افغانستان غوندې په یوه نرواکه ټولنه کې، ښځه څومره د خطر احساس کوي؟

زه په کال ۲۰۱۳ کی د همبسـتګۍ ګوند سـره یوځای شـوم. مخکې می هم د یوې مدني فعالې په توګه کارکاوه خو د کار په اوږدو کی می پام شـو چی په یوائې ځان مبارزه کومه پایله نلری نو له همدې کبله می وغوښـتل خپله مبارزه د یو سیاسـي ګوند په چوکاټ کی پر مخ یوسـم. د همبسـتګۍ ګوند راته یوائنی ریښـتینی ګوند ښـکاره شـو چی په عمل کی انسانی ارزښـتونو ته درناوی درلود او د یوې خپلواکې او ډموکراتی ټولنې چی په هغې کی ټول انسـان پرته له قوم، مذهب، نژاد، لوري... برابر ژوند ولری؛ مبارزه کوي.

له ګڼو ان.جی.اوګانو او نورو بنسټونو سره د کار په لړ کی په دې وپوهیدم چی د هغوی اصلی موخه خلکو ته کار بلکه تجارت او د پیسو لاسته راوړل و. دې حقیقت ته ورسـیدم چی د افغانسـتان بیارغونې او انسان‌دوستانه مرستو په نامه د امریکا او لویدیـځ له لوری د ټولنـې انجیویزه کول، ددې پر ځای چی د هیواد او خلکو ټپونو تـه مرهم وي په عمل افغانسـتان د مرګ کندې ته غورځـاوه. د انجیوګانو له لاری نیواکګرو وکولای شو چی د روڼ‌اند او پرمختللو انسانانو یو نسل د هغوی جیبونو ته د ډالرو اچولو په واسطه، د هغوی وجدان واخلی او په خپلو چوپړانو یی بدل کړي.

دغـو او ورتـه نورو تجروبو راته دا پوهاوی راکړ چی د ناپوهۍ، ارتجاع، نیواکګرو او ناتـار ځخـه د خلکو ژغورلو یوائنۍ لاره د یو پرمخ‌تللی او ولسـي ګوند په چوکاټ کی فعال سیاسي مبارزه ده او بس.

دا سـمه ده چی په یوه نرواکه ټولنه کی ښـځۍ له ګڼو ستونزو سره مخ وی، خو که ښـځۍ په خپل تـوان وپوهیږي او د خلاصون لپاره په آګانـه ډول مبارزه وکړي نو دا خنډونه به یوه ورځ له منځه ولاړ شـي ځکه پرته له دې بله لاره نشـته. آزادی چاته په خیرات کی نه ورکول کیږي، د هغې لاسـته راوړلو لپاره باید جدی مبارزه وشـی او تر هغې چی ښـځې په خپله د خلاصون لپاره لاس په کار نشي، دا ستونزي په پای ته ونه رسیږي.

د ډیورنډ کرښې په اړه ستاسو د ګوند پالیسي څه ده؟

د ډیورنـډ کرښـې په اړه زمونږ پالیسـي ډیره روښـانه ده. د ډیورنډ لیکه د کشـمیر د مسـئلې پـه څیـر د انګلیس د نیـواک ناولي میراث دي چې تر اوسـه پوری یی د دښـمنۍ تخـم پاتـي دي. زمونږ خلک او تاریخ پرته له شـکه د ډیورنـډ تړون چې د

هیوادپلورونکي امیر له لوري لاسلیک شو، یو ملي خیانت شمیری. خو په ورته وخت کې باید ومنو چې د خیبر پښتونخوا او بلوچستان خلکو برخلیک چې د افغانستان خلکو پرتله نسبتاً د ښه اقتصادي او ټولنیز حالت څخه برښمند دي، باید د یوې آزادۍ او عادلانه ټولپوښتنې له لارې وټاکل شي. دغه امر په طبیعي ډول هغه وخت د پلې کیدو وړ دی چې په دواړو هیوادونو کې خپلواک او ولسي دولتونه واکمن وي.

په اوسني وخت کې د افغانستان متحد کوم قدرت کېدلای شي، تاسو ولې د امریکا په اړه ډېر بد نظر لرئ.؟

مونږ په دې باور یو او تاریخ هم دا په ډاګه کړې تر هغې چې یو ولس خپله په خپل لاس له دغه کړکیچن حالت څخه ځان خلاص نکړي، هیڅ یو بهرنی ځواک نشي کولای زمونږ خلکو ته نیکمرغي راولي.

زما په آند سمه به دا وی چې ووایو مونږ د نیواکګرې امریکا په اړه ډیر ښه نظر لرو. په تیر ۱۶ کلونو کې که مونږ د امریکا کړنو ته وګورو نو پرته له خیانت او جنایت او ویني‌بهونې بل کار ندی کړی. کله یې زمونږ د خلکو جنازې بمبار کړي او کله ودونه، کله یې پر مړو میتیازې کړي او کله یې ترینه د لاس ګوتې د یادګار په څیر پرې کړي دي. دوی د «دموکراسۍ، ښځو حقونو او ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې» په پلمه پر افغانستان یرغل وکړ خو په پایله کې د ښځو او دموکراسۍ ضد عناصر لکه سیاف، خلیلی، عبدالله، اسماعیل خان، محقق، رباني، قانوني، فهیم، ملا تره‌خیل... د افغانستان خلکو او په ځانګړې توګه د کړیدلو ښځو په برخلیک واکمن کړل. ترهګرۍ ورځ تر بلې په ډېریدو ده. ځناوره ډله لکه داعش منځ ته راغله چې جنایتونه یې مونږ هره ورځ ګورو. نو د امریکا دې تورو کارنامو ته په لیدو سره باید ووایو چې زمونږ د ګوند لید ددغه جنایتکاره او جنایت‌روزونکي هیواد په اړه په واقعیتونو ولاړ دی. هغه خلک چې نن امریکا ته سجده کوی او د په افغانستان د امریکا پاتې‌کیدو سوالونه کوی دوی تاریخ او زمونږ رنځیدولو خلکو ته مختوری دي. مونږ د خپلو خلکو په ځواک پوره باور لرو او پوهیږو چې یوه ورځ به امریکا زمونږ په هیواد کی ماته خوری لکه په ویتنام او کوریا او لاتیني امریکا کی چې ماته وخوړه.

په افغانستان کې نږدې هر ګوند د پلویانو موندلو لپاره اسلامي ټکی له ځان سره تړلی، په داسې سیاسي چاپیریال کې یو سیکولر ګوند څنګه پلویان پیدا کولای شي؟

ښــه به دا وی چی ستاســو درندو لوستونکو ته دا روښــانه کړم چی ولی زمونږ ګوند اســلامی پیشــوند او پســوند نلری. په افغانســـتان ډیری او که ووایو چی نږدې ټول ګوندونه اســلامی پیشــوند او پســوند لری او د اســلام په نوم یی پــه زرګونو خلک وواژل، پر ښــځو یی جنســي تیري وکړ، د خلکو کورونه یی لوټ کړل... او نن هم کله چی د ستیج سر ته پورته کیږي نو په اوږدو آیتونو خلک غولوی. نو ددې لپاره مونږ نه غواړو د اسلام په نوم خلک وغولو.

دوهم خبره د ســیکولایزم، په افغانســـتان لا تر اوســه هم خلک د سیوکولاریزم نه د کفر برداشــت لری چی دا ناســمه ده. په یوه سیکولار ټولنه کی د دیني تاجرانو دکانونــه بندیــږي او بس. له همدې کبله همدغه تاجــران چی کلونه – کلونه یی د خلکــو له عقایــدو ناوړه ګټه پورته کړی د ســیکولاریزم مخالفت کوي. مونږ په دې پوره باور لرو چی د خلکو پوهې په لوړېدو سره سیکولاریزم ته هم لاره هواریږي.

په اکثرو لویو ښارونو کې نا مسوله وسله وال او ټوپک سالاران په قدرت کې دي، ایا د دې هیله شــته، چې ځای به یې یوخت ســیکولر او د زور له لارې د قدرت نیولو دود به پای ته ورسیږي؟

پرته له شکه چی دا کار به کیږي. مونږ په بدلون باور لرو او که چیرې مو پدې باور نــه درلــودې نو مبارزه مو هم نه کولــه. ناهیلي د ماتې په مانــا ده او مونږ هیڅکله هم ماته نه منو. لکه څنګه چی مخکی می وویل یوه ورځ به د افغانســـتان خلک په آګاهانه ډول راپاڅیږي او دې ټولو ناخوالو ته به د پای ټکی کیږدي.

د حکمتیار او نورو جهادي رهبرانو څه ډول محاکمه غواړئ؟

د ګلبدین په شــمول د تیرو څلور لســیزو ټولو جنایتکارانو علنی ملی او بین‌المللي محاکمه غواړو. داسی یوه محاکمه چی پکی ریښتینی عدالت پلی شی او قربانیانو ته د قناعــت وړ وي. څکــه مونږ په دې باور یو چی د یو روښــانه راتلونکی لپاره باید له تیر سره حساب پاک کړو. او دا په داسی یو حکومت کی شونې ده چی هغه د خلکو رأی په واسطه منځ ته راغلی وی نه د جان کیري له لوري.

په افغانستان کې د نا امنۍ پېښې او مرګونه ډېر دي، خو په ټولنیزو شبکو کې ډېری خلک د وژنو تصویرونه خپرول ښــه نه ګڼي او اســتدلال کــوي، چې پر خلکو ناوړه رواني اغېز کوي او د وحشــتونو پر وړاندې حساســیت له منځه وړي، خو ستاسو په

مجله او ویبسایټ کې داسې تصویران ډېر خپرېږي، په دې اړه تاسو څه نظر لرئ؟

دا ریښتیا ده چې په افغانستان کی هره ورځ ډېرې زړه‌بوږنونکې پیښې ترسره کیږي چې لیدل او اوریدل یی ډیر ستونزمن کار دی خو له بده‌مرغه همدا د افغانستان واقعیت او دا زمونږ دنده ده چې خلکو ته دا واقعیت څرګند کړو. ځکه تلویزیونونه او راډیوګانې ټوله ورځ لګیا دی خلک په درواغجنو انځورونو او ویډیوګانو غولوي. که چیری یو دولت یا امریکا یو وړوکی پُل هم جوړ کړی نو دا رسنۍ هغه په کراتو ښایی خو که د امریکا په بمبارکی په لسګونو خلک هم ووژل شي په هغې پرده اچوی او یا یی په ناسمه توګه خپروي. نو دا زمونږ دنده ده چې دا تریخ واقعیت خلکو ته ووایو او خپور کړو.

او له بل پلوه د یو تاریخی سند په توګه هم ددی انځورونو خپرول اړین دي. که چیرې د امریکا او طالبانو او داعشیانو ځناورو کړنو انځورونه خپاره نشی نو راتلونکی نسل په تیاره کی پاتی کیږي. هغوی بیا په دې نه پوهیږي چې زمونږ په هیواد کی څه تیر شوی او دغه هیوادونه چې د دموکراسۍ او بشر حقونو نغاره وهی کوم جنایتونه یی زمونږ د خلکو پر وړاندې ترسره کړي دي.

ستاسو غږ په نړۍ کې څومره ملاتړ لري؟

نړدي ټول دموکرات او دموکراسی پلوه خلک او ګوندونه مونږ پیژني. او مونږ هم په نړي کی له دموکراسی‌پلوه او روڼ‌آندو څخه تل پلوي کړی ده. مونږ د جلال‌آباد په ښارکی د ایران روڼ‌آندو لکه فرزاد کمانګر، شاهرخ زماني، شیرین علم هولی... او کوباني ِغښتلو او مبارزو ښځو په پلوی لاریونونه کړی او له هغوی څخه مو ملاتړ اعلان کړی دی.

د جنګسالارانو پر وړاندې له مبارزې پرته د یووالي(همبستګی) نور کوم ټکي دي، چې خلک پرې راټولیدای شي؟

ډیر ټکی دې خو په لنډه توګه باید ووایم چې زمونږ د ګوند موخې چې عبارت دی له (خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان / د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملی یووالی / د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو پرګنو مساوی حقوق / د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه / د امریکایی او ناتو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.)داسی روښانه ټکی دي چې د هر ملی او مبارزه

کس د زړه خبري دي.

د شخصي ژوند او کورنۍ په اړه مو معلومات راکړئ؟

د امنیتي ستونزو له امله ډېر څه نشم ویلی خو دومره به درته ووایم له یوې روڼ‌آندې کورنۍ ښخه یم او تل به د خپلو خلکو تر څنګ ولاړه یم.
په پای کې د «مینه» مجلې له ټولو کارکونکو ښخه د زړه له کومې مننه کوم چې د امنیتی ستونزو او ګواښونو او مالي ستونزو سربېره تاسو زمونږ خلکو ریښتینی غږ یاست او د هیواد تراخه واقعیتونه خپروئ، او زورواکو او بنسټپالانو ته غوړه‌مالی نه کوئ. تاریخ به تاسو د باوجدانه او پر هیواد مین انسانانو په توګه په یاد ولري. تاسو می د مینې ډک سلامونه ومنئ.

مننه
عزت الله څواب



**د بنسټپالو په فکرونو کې د ښځو ځای!**



لیکونکی: پویا

# په بریتانیا کې د یو اخوانې رسوایی



۸۱ کلن، محمد حاجی صدیق، ځوانو انجونو ته د قرآن تدریس پرمهال یې د هغوي څخه ناوړه جنسي ګټه پورته کوله چې د څلورو انجونو په شکایت سره په ۱۳ کاله بند محکوم شوی دی. صدیق د ۳۰ کالو څخه ډیر د بریتانیا – کاردیف ولز ښار په مدینه جومات کې د قرآن ښوونکې وه. قضاوت کونکې پلاوی د ۲۰۰۶-۱۹۹۶ کلونو په منځ کې هغه په شپږو بدغونو بریدنو او د جنسي تاوتریخوالې په اته مواردو باندي تورن کړی. قاضی استیفین هاپکینز امر وکړ چې هغه باید د یو بې پایه جنسي مجرم په توګه ثبت شي. قاضي په خپل وینا کې دغه مولوی ته عیاش ویلی:

> «دغه څلور انجونې په حقیقت کې ډیرې زړورې دي چې نه یوازې شخصي خنډونه بلکه کلتوري یي هم له منځه وړی دي او د رسمي شکایت او شواهدو سره یي ستاسو په وړاندی ودریدنه وکړه.»

د دعوا کونکو څخه د محکمې د پلټنو په ترخ کې، حاجی د تدریس پر مهال د زده‌کوونکو څخه غوښتل تر څو څنګ ته یې کینې، د عنعنوي جامو په شتون سره به یې د هغوي په بدن لاس واهه او د ورنونو او پښو تر منځ یي خپل تناسلي‌غړې سولاو او د کومې تیروتنې ترسره کولو په ترخ کې به یې هغوي په څپړو وهل او د څپړو وهلو لړۍ به تر هغه دمه ادامه درلودله ترڅو چې په سمه توګه یی ولولی. د

قرباني شــوو انجونو څخه يوې نجلۍ ووېل د هغه جنســې ځورونو له امله چې هغه ورسره مخ شوې وه غوښتل يې ځان وژنه وکړي.

د دا ډول جرمونــو ګــڼ شــمېر مثالونه زموږ په هيواد کې هم پيښ شــوي دي. ډېــر ځله مــو د هيواد په ګوټ ګــوټ کې د افراطــي ملايانو فزيکــي تاوتريخوالې او ناوړه جنســي کټه پورته کولو په اړوند ډېر اوريدلې دي. بنســټپالان چې د اخلاقو او دينــداري ډول وهــي او د هغوي هــر ډول فتوا او وينا يی پــه رنځيرونو کی د ټولنې رانغړلو پرته بل څه ندی، په خپله تر ټولو کوچنې انســاني اخلاقو څخه برښــمند نه دي او د لويړند (طفيلی) په څير د خلکو وينه څښکې.




**ګټه‌ور تجارت** | کارتونیست: هاني طلبة




# «د ګلبدین لاره د مړو څخه فرش ده»

سرچینه: «د لویدیځ المان ورځپاڼه» (Westdeutsche Zeitung)، ۱۹۹۲ کال د اپریل ۲۸مه (۱۳۷۱ کال د غویي ۸مه)
ژباړونکې: خالد




کابل: ګلبدین حکمتیار، د حزب اسلامي بنسټپاله رهبر، په افغانستان کې یو د جنایتکارو خیرو څخه دي چې د اویاومو کلونو له لومړی څخه د ځواک د لاس ته راوړلو لپاره، شیطاني لوبه یې خپله دنده وګرځوله.

حکمتیار، هغه کس دي چې مجاهدینو ته د امریکا پوځي مرستو ډیره برخه هغه ته ورکړل شوی دی. د یو څیړنیز راپور پر بنسټ چې د امریکا د سنا د غوښتنې پر بنسټ چمتو شوی دی، ګلبدین حکمتیار د شوروی اتحاد څارګر سازمان (کې‌جي‌بي)، د کابل څارګر سازمان (خاد) او ایراني سازمانونو سره کار کاوو. نوموړی راپور، له افغانستان څخه د شوروی اتحاد پوځي ځواکونو د وتلو څخه وروسته لیکل شوی دی.

حکمتیار چې ګواکې نن ورځ ۴۲ کاله عمر به ولري، متعصب پښتنو لړکیو پوری تړلې دی. هغه د شپیتمې لسیزې په وروستیو کې خپلې زده‌کړې یې د کابل په پوځی لیسه کې پیل کړلې، خو ځنډ یې ونکړ چې د همجنس‌بازی کړنو پر بنسټ له دغې لیسې څخه وویستل شو. وروسته د کابل پوهنتون کې شامل شو. هغه

همدارنګه د کابل پوهنتون څخه وشړل شو، څکه په همدغه لړۍ کې له پرچمیانو، د غیرقانونی کمونیستانو، سره یوځای شوی وو او په ویجاړونکو چارو کې یی لاس درلوده.

د نوموړی راپور پر بنسټ، کمونیست ګوند [د«خلق دموکراتیک ګوند ـ پرچم څانګې» څخه موخه ده] هغه یی د راپورچې په توګه سختدریزو اسلامې کړیو ته واستوه ، خو په چټکې سره د هغوي د افکارو اغیز لاندی راغې. په ۱۹۷۳ کال کې، په پاکستان کې څرګند شو او خپل ځان یی د یو بنسټپاله مسلمان په توګه معرفی کړ. یو کال وروسته، د پاکستان څارګر سازمان سره د هغه د اوږدی لړۍ همکاری پیل شوه. آی‌اس‌آی نوموړی ته زده‌کړه ورکړه تر څو د هغه په مرسته د داوود خان دولت نسکور کړی. د دغه سازمان پوځی افسران، هغه یو بدچلنده، ناتاره او د واک تږي کس په توګه معرفی کړی وو. نوموړي هر کار ته لاس اچاوه تر څو په سر کې ځاې ولری. ډیر شمیر راپورونه په دغه اړوند شته دی چې حکمتیار خپلې سیالې مجاهدینې ډلې چې د هغه د امر لاندې نه راتللی دښمن ته یی ورښودلې، په ټول افغانستان هغه د مجاهدینو تر منځ چوغولی کوله. نوموړی راپور زیاتوی چې د اتیاومو کلونو په منځ کې په کابل کی د لنډ مهاله لپاره د مقاومت ماتیدل او د مجاهدینو جاسوسی کړۍ کمزوری کیدل، د حکمتیار کار دی.

د حکمتیار د واک اصلې سیال تل احمدشاه مسعود، د جمعیت اسلامی پوځی قوماندان دی چې د تاجیک جنګیالیو ملاتړ څخه برښمند دی، د ۱۹۸۹ کال د جولای په لومړیو کې، حکمتیار د مسعود ۳۶ تنه قوماندانان په کمین کې واچول چې د سځتو ربړونو وروسته یی، ټول ووژل. د هماغه کال په نوامبر کې د اکمالاتی موادو ۵ کاروانه او په مسعود پوری اړوندي ډلې ۲ سلاح‌کوټونه وچاودیدل. د امریکا سنا ته پورته چمتو شوی راپور دا څرګندوې چې یادې چاودنې د حزب اسلامی کسانو کار دی.

Westdeutsche Zeitung, Dienstag, 28. April 1992

# Leichen säumen seinen Weg

**Der orthodoxe Mudschahedin-Führer Hekmatjar gilt als skrupellos**



Gulbuddin Hekmatjar

**Kabul (dpa). Gulbuddin Hekmatjar, der Chef der orthodox-islamischen Hisb-e-Islami, gehört zu den skrupellosesten Figuren des innerafghanischen Machtpokers seit der ersten Hälfte der siebziger Jahre.**

Hekmatjar, dem jahrelang die Masse der US-amerikanischen Militärhilfe für die Mudschahedin zufloß, hat nach Angaben eines Forschungsberichts, der im Auftrag des US-Repräsentantenhauses erstellt wurde, für den sowjetischen Geheimdienst KGB, den kommunistischen Kabuler Geheimdienst Khad und iranische Organisationen gearbeitet. Der Bericht wurde nach dem Abzug der Roten Armee [illegible] dung an der Kabuler Militärakademie, wurde jedoch bald wegen homosexueller Praktiken der Akademie verwiesen. Er wechselte zur Kabuler Technischen Universität, wurde jedoch auch dort verwiesen, weil er sich zwischenzeitlich dem Parcham-Flügel der illegalen Kommunisten angeschlossen hatte und in Sabotageaktionen verwickelt war.

Die KP machte ihn nach Angaben des Berichts als Spion in radikal-islamische Kreise, deren Gedankengut er jedoch bald aufnahm. 1973 tauchte er in Pakistan auf und präsentierte sich als radikaler Moslem. Ein Jahr später begann die lange Phase der Zusammenarbeit mit dem [illegible] machtgierig. Er unterstütze alles, um an der Spitze zu [illegible]. Es gibt viele Hinweise darauf, daß Hekmatjar immer wieder rivalisierende Mudschahedingruppen verriet, wenn sie sich nicht seinem Kommando unterordneten. Zahllose Verbachungen von Mudschahedin [illegible] ganzen Land sollen auf sein [illegible] zurückgehen. Der Bericht geht davon aus, daß der zeitweilige Zusammenbruch des Widerstands ab Mitte der 80er Jahre und die komplette Verkürzung eines Mudschahedin-Spionageringes in Kabul Werke Hekmatjars sind.

Hauptopfer der Intrigen Hekmatjars war stets Ahmed Schah Massud, der militärische Chef [illegible] nen Hinterhalt laufen, brutal foltern und dann ermorden. Im November desselben Jahres explodierten fünf Versorgungskonvoi für Massuds Truppen [illegible]




لیکونکی: کاوه عزم

# له دردوړکه تاریخي پرتله



شاوخوا سل کاله مخکې شاه امان الله خان د خپل مشهور اورپايي سفر څخه د راګرځیدو سره يي، يوه لويه جرګه راوبلله چې په هغې کې د هیواد پراختيا او پرمختګ لپاره يو لړ نوي قوانين تصويب کړل. له دې سره سره چې دغه ولس‌پاله شاه د خلکو حالت ښه کولو لپاره او د هیواد سوکالې لپاره ښې طرحې درلودلې خو يو شمير مرتجع ملایان او مذهبې مشران د هغه د پرمختللو کړنلارو په وړاندې خنډ وګرځيدل.

په دې لويه جرګه کې، «رسمي او خصوصي لقبونو» په اړوند يو قانون تصويب شو چې په هغه کې راغلي دي:

> «په افغانستان کې د سردار؛ جلالتماب؛ لوی خاوند؛ عاليشان او دی ته ورته نور لقبونه لغوه دي. په رسمي ښووڼځيو کې ټولو وړو او لويو مامورينو ته يوازې شخصي نوم د خان کلمې په ډيرولو؛ او د دندې درجه دې وليکل شي؛ او د پادشاه په وړاندی دی ګران اعليحضرت پادشاه او يا اعليحضرت ګران پادشاه وليکل شي او په خصوصي مکتوبونو کې د مخاطب کس په نوم باندی؛ ګرانه وليکل شي.»

خو د ع او غ دوه سره حکومت جوړښت څخه وروسته چې ټاکنيزې‌ملنډې او د جان کيری راتګ او د «ملي‌وحشت» حکومت جوړښت چې دغه دوه تنه يې د خلکو په منځ کې خواره بدنومې کړل، د درواغو پيژندګلوی او په نور د ځان زغملو لپاره؛ عبدالله ټولو دولتي اداراتو ته امر وکړ چې هغه ته دې د «جلالت‌مآب»

خطاب وکړی! د «متحدالمال» تر سرلیک لاندي په یو مکتوب کې چې د «اجرائیه ریاست دفتر» له خوا څخه لیږل شوي دي داسي لیکلې دي:

«د افغانســتان اســلامی جمهوریــت ټولو خپلواکــو وزارتونو او ریاستونو ته!

څرنګه چې څرګنده ده، په رسمی مکتوبونو کې د اجرائیه ریاست د لوړ پوړی چارواکي لقب په مختلفو ډولونو ســره ذکر شوي دي.

د ښــاغلی جلالتمآب کره لقبونه په دری، پښــتو او انګلیسی ژبو په لاندی توګه ستاســی پام ته راوړل کیږی او غوښــتنه کیږی تر څو لاندی لقبونه د مکتوبونو لیږلو په وخت کې په پام کې ونیول شي او موږ خوښ کړی: جلالتمآب محترم ډاکټر عبدالله عبدالله

د افغانستان د اسلامی جمهوریت اجرائیه رئیس

جلالتمآب ډاکټر عبدالله عبدالله

رئیس اجرائیه جمهوریت اسلامی افغانستان

د پورتنیــو مراتبــو په پام کې نیولو ســره، د بهرنیو چارو جلیله وزارت څخه غوښــتنه کیږی تر څو ټولو بهرنیو ســفارتونو، ملګرو ملتونو دفترونو، په کابل کې نړیوالو سازمانونو او سیاسی څانګي ــ په بهر کې ج ـ ا ـ ا قونسلی ته د یاددابنت/ لیک استولو تر څنګ، د جلالتمــآب اجرائیه رئیس ج ـ ا ـ ا کره لقبونه د هغوي پام ته په رسولو سره موږ خوښ کړی...»

یوازې دغې یوی موضوع ته په پام ســره کولې شــو چې پوه شــو چې ولی د سل کالو په تیریدلو ســره نن ورځ هم امان‌الله خان د افغانســتان د خلکو په ذهن او زړه کــې ځــاي لری. هغه د پروپاګنډ لپاره نه بلکه دهیواد پراختیا او پرمختګ لپاره فکر کاوه؛ هغه ۴۰۰۰ ډالری دریشــیاني نه اغوســتلې بلکه د وطنی ټوټو څخه یی جامې جوړولی او خپل شاوخوا خلک یی هم دی ته هڅول چې د وطنې محصولاتو څخه ګټه واخلی؛ هغه د وژونکو پیښو ټپیانو سره یادګاری انځورونه نه اخیستل بلکه د دا ډول پیښو مخنیوي یی کاوه.

امان‌الله خان د هیواد یوازینې عدالت‌غوښــتونکې او هیوادپاله شاه وه چې خلک لــه هغه ســره تر اوســه مینه لری او اړتیــا نه لری چې د ملت په ســر باندی په زوره وزغمل شــي. پرته له دی چې د لســګونو زرو ډالرو په لګښت سره رسمی سرچنې د هغه لپاره پوســتر چاپ کړی او ننداریز مراســم ترسره کړی، هر کال د افغانستان د خپلواکۍ په ورځ زرګونه تنه خلک په خپله خوښه هغه ته د احترام وړاندی کولو په خاطر د هغه زیارت ته راځې.



لیکونکی: احمر

# «د وژونکو ډله»، په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ځناورتوب مستند




«د وژونکو ډله» (The Kill Team)، یو مستند دی چې د کندهار په میوند ولسوالي کې د امریکایي نیواکګرو ځواکونو له خوا د ورزشي سرګرمیو لپاره د بې‌ګناه افغانانو وژل د او د جنګي غنیمت په توګه د هغوی د بدن د غړو ساتل یې انځور کړي او دا په ډاګه کوي چې دغه د امریکا واکمن سیستم دی چې د خپلو سرتیرو څخه ځناور او بې‌رحمه عناصر جوړوي.

دغه فلم د امریکایي مستندجوړونکي، دن کراوس (Dsn Krauss) له خوا جوړ شوی چې تر اوسه دوځله د اسکار جایزې ته نوماند شوی او تر ټوله غور مستند فلم ډالي یې د «ترایبکا فلم ننداره» کې د خپل ځان کړه. د یادونې وړ ده چې بناغلې کروس څو نور د مفهوم څخه ډک مستندونه هم جوړ کړي دي چې د لیدلو ارزښت لري او له هغې ډلې څخه کولی شو د «کیون کارتر مرګ» (The Death of Kevin Carter)، «د ټولو لپاره ناانډول» (Inequality for All) و «وروستۍ پایله» (Extremis) څخه نوم یوسو.

مستند د آدم وینیلد (adam Winfield)، د «میوند ولسوالي په وژنو» کې یو تن د تورن په خبرو پیل کیږي چې د پوځ سره د یوځای کیدو لپاره خپله لیوالتیا څرګندوي. وریسی دوه نور نظامي تورن هر یو جیرمي مورلاک (Jeremy mor-lock) او اندریو هولمز (Andrew Holmes) د افغانستان جګړې په وخت کې خپله لیوالتیا او خوښې په موسکۍ شونډو بیانوی.

مورلاک وایي:

«د نظام د پیاده په ډول، د سړي ټول ژوند د آزمایښتونو په یوه ټولګه کې نغښتی دی. آیا په بشپړه توګه یو سړی یې؟ آیا په ډېره اندازه یو کلک سړی انسان یې؟ کولی شې چې ماشې ته زور ورکړې؟ آیا مړي کولی شې؟ آیا ژوندی پاتې کیدلې شې؟ له تګ څخه وړاندې، د قطعې قومندان موږ ته وویل: "افغانستان د جنګیالیو جنت دی."»

او هولمز په ادامه کې ډېروي:

«د جګړې لومړنی تجربه مې: یو کلې ته د ننوتلو لپاره د یوالونو څخه اوختیدلم چې مردکې زموږ د سر د پاسه تیر شو. غواړم دا ووایم چې زموږ شاته د ونو سره ولګیدل. او لومړنی شی چې مې ذهن کې راوګرځیده، د "تاپ ګن" فلم صحنه وو. خرپنده جګړه وه خو ډېره زړه راښکونکې وه.»

ورپسې درې واړه سرتیرې د جګړې نه شتون څخه سر ټکوي او وای د قومندان د ټپي کیدلو څخه وروسته یو نوی قومنداند د کالوین ګیبز (Calvin Gibbs) په نوم راځي چې د افغانستان او عراق د جګړو تجربه لري. هولمز یې په اړوند وایي:

«ما ته یې هیڅکله ونه ویل چې په عراق کې یې څه کړي دي. د هغې خالوهنې مې ولیدلې. کار یې کاو چې د څو کوپړیو خالوهنې مې د هغه په خپه کې ولیدلې. له هغه څخه مې ونه پوښتل او بل چا راته وویل:"هغه کسان دي چې تر اوسه یې وژلي دي."»

مورلاک د دغه قومندان څخه په ستاینې خرګندونه کوي:

«ما او ګیبز ډېر وخت یوځای سره تیراوه... د لومړي دوه اونیو لپاره په یو ګاډي کې یوځاي سفر کاوه. له هغه څخه د مې په عراق کې دهغه وروستۍ دندې په اړوند وپوښتل. د یوې ځانګړي پیښې په اړوند یې قصه وکړه چې په ښه توګه مې په یاد ده. په عراق کې چې څه وخت د سړک څخه تیریدلو، یو ګاډی د هغه لور ته راځې او نه ودریږي. د ګاډي په لور د ډزو باران کوي او وروسته جوته کیږي چې په کاډي کې ناست خلک یوه کورنۍ وه. فکر کوم، پلار او مور او یو کوچنې ماشوم وژل کیږي... ماته یې توضیح راکړه چې له ډېر وخت څخه د داسې موقعې په تمه وه ځکه چې په آسانۍ سره یې صحنه‌سازي کړې وه او د سزا څخه یې ځان خلاص کړ.»

او په ادامه کې وايي:

«د قرباني تر ځنګ د وسلې ايښودلو صحنه‌جوړولو سره زموږ لومړني خبرې پيل شوې... په عراق يا افغانستان او يا په نورو ځايونو کې د کسانو په اړوند مې ډېر اوريدلې وه کله چې وسله ترلاسه کوی کله چې يو غيرنظامی وژني، يوه وسله د مړي تر څنګ ږدي تر څو هغه يو ګواښ ښکاره کړی.»



له ښي لور څخه کيڼ لور ته:آدم وينفليد، جيرمی مورلاک، مايکل ويګنن او اندريو هولمز

د مستند په ادامه کې، مورلاک توضيح ورکړه چې د ګيبز سره د چای ښبنکلو پر مهال، هغه ورته زده‌کړل چې څو لاسي بمونه چې په ليست کې ثبت نه وی له ځان سره وساتی او دهغې څخه په ګټه اخيستنې سره انسانان ښکار کړی. وروسته، د کندهار ولايت د ميوند ولسوالي د «لعل‌محمد په کلي» د ګزمې پر مهال، مورلاک او هولمز پريکړه کوی يو کس د هغوی لور ته د لاسی بمب د اچولو په تور ښکار کړی چې په پايله کې د ۱۳۸۸ کال د مرغومی مياشتي په ۲۵ نيټه (۲۰۱۰ کال د جنوری په ۱۵) ۱۵ کلن افغان ځوان د ګل‌محمددين په نوم چې د خپل پلار په کرونده کې کار کاوه، د دغه ځناورتوب قربانی کيږی.

«هولمز: په هغه ورځ کې د غونډۍ په هسکه څوکه ولاړ وو او د کلې له مشرانو سره مو مرکه کوله.

مورلاک: زه او هولمز د ډلې د نورو غړو څخه په يو ډول لری پاتی شو. او ورته مې وويل، چې د هغه هلکانو څخه يو تن ويشتلی شو او که نه. يو هلک په کرونده کې په بزګری بوخت وو. د جزيياتو په اړوند مو خبری وکړی: "هغه زموږ لور ته راته، ورته مو وويل چې ودريږه. زموږ امر ته يې غوږ و نه نيوه. هولمز په خپل لاس کې يو شی يې تشخيص کړ. هغه فکر وکړ چې بايد لاسي بم وی. زموږ لور ته يې ګوزار کړ او وروسته موږ له هغه سره ونښتلو او د ديوال شاته پټ شو."

هولمز: د مورلاک شا ته مې سنګر ونيوه او هغه زما په غوږ کې چيغې ووهلې:"لاسی بم. هولمز، اوربل!"

مورلاک: د بم چاپې یې وویستله او هغه یې وغورځاو او د هولمز لور ته مې چیغې وکړې: "اوربل!" پوهیږی، ابدی ګړی وه.

هولمز: له هغه وخت څخه چې چاپې وویستل شوه او لاسی بم چاودنه وکړه، ۵ ثانیه مو درلودلې.



**کالوین ګیبز چې ویل کیږی د وژل شویو د بدن غړی یې د ځان سره ساتل او په دې ځاې کې هم ورسره د جراحی قیچې د هغی د سینی د پاسه جیب کې لیدل کیږی.**

مورلاک: په خپله ماشینداره یې څو ځله ډزې وکړې او وروسته مې هغه رابښکته کړه. لاسی بم وچاوده.

هولمز: هر څه ګډوډ شو، خاورې او دوړو ټول ځاي نیولې وو. خپل کیڼ لور ته مې وکتل، هغه ځای چې مورلاک پر دیوال ناست وو. مخابره یې په لاس کې وه او په هغې کې یې چیغې وهلې: "اړیکه. اړیکه. اړیکه."

وینفیلد: د مورلاک له لور څخه مو د "اړیکې. اړیکې" چیغې واوریدلې او وروسته یې پیښه تشریح کړه. ناڅاپې مې هغه کیسه چې د مخکې نه راته تشریح شوی وه په ذهن کې مې تیره شوه چې مخکې نه یې د دغه ډول پیښې په اړوند راته تشریح راکړل شوی وه.

هولمز: د هغه لور (مورلاک) ته مې پام وکړ او ومې ویل: "بیا ونښلو؟ مرسته کونکې ځواکونه وغواړو یا دغه هلک څو ډزې نور وولو یا نور څه؟" مورلاک ماته ځواب رانکړ. د هغه هلک لور ته د



د کلوین ګیبز په پښه باندی د کوپړیو خال‌وهنی

تیارسی په حالت کې ولاړ وو، خپل ام۴ ټوپک یی اوچت کړ او ټک ټک دوه ډزه نور یی هغه هلک وویشته.

مورلاک: هغې د انسانانو په نوم‌لړ کې ځای ندرلوده، زه هک‌پک وم، هولمز هم همداسی. ټوله یوی لوبی ته پاتی کیده، پیاده نظام نړی. له خپل ځان سره می وویل: "په پای کې مو یو تن وواژه. اړینه نه ده، ښه یا بد انسان."

هولمز: د دغه هلک پلار او ورونه یی راوستل او د هغوي څخه یی پوښتنه وکړه: "دغه هلک پیژنې؟" او هغه سړی ځواب ورکړ"هو، ځوي مي دي. "ورور یی هغه ځاې کې ناست وو او دواړو ژړاه کوله. تر هغې وروسته مو هغه په توره خلطه کې کېښوده او د کلي پورته برخې ته مو یوړ او زره ګاډی په وړاندی مو هغه بربنډ کړ. ګاډی ته وختلو او د ادرنالین هورمون زموږ په ټول بدن کې د خپریدلو په حال کې وو. نه پوهیدلم چې وروسته له هغې څخه څه کیږی او قرارګاه ته راوګرځیدلو. ټولو موږ ته د اتلانو په څیر کتل.

وینفیلد: ټولو هغوې ته لاسونه پړقول، چک یی اچاوه او لاس یی ورکاوه. او ویل به یی چې ټول باید له تاسو څخه زده‌کړه وکړی. زه په کیسه بل ډول پوهیدلم او نورو همدارنګه. خو د ټول لپاره د منلو وړ وه.»

دغه جنایت یوازې د ۱۵ کلن ګل‌محمددین په وژلو سره پاي ته نه رسیږی. د ۱۳۸۸ کال د کب په ۳ (۲۰۱۰ د می میاشتی په ۲)، د «وژونکو ډلې» څخه کالوین ګیبز او مایکل ویګنن ۲۲ کلن معراج آغای یی د تودوخې شارونکې کمرې په واسطه د سرک په غاړه وپیژنده او برید لاندی یی ونیوه او وروسته یو کلاشینکوف یی د هغه په خوا کې کېښوده تر څو هغه یو ګواښ ښکاره کړی. د ۱۳۸۹ کال د غویی په ۱۲ (۲۰۱۰ کال د می په ۲)، کالوین ګیبز او آدم وینفیلید یو بل کس د

ملا الله‌داد په نامه وواژه.



**د ۱۳۸۸ کال د مرغومی په ۲۵: اندریو هولمز د ګل‌محمددین سره یادګاری انځور اخلی.**

د مستند په بله برخه کې، مورلاک اعتراف کوی کله چې قرارګاه ته راګرځې، ګیبز هغه ته د یو قربانی غوټه کړی شوی ګوته ښکاره کوی او وایی پریږدی یی چې خوسا شی او د هډوکو ټخه یی د خپل ځان لپاره غاړکې جوړوی. مایکل ویګنن هم د یو قربانی د کوپړۍ د یوی برخې هډوکې د خپل ځان سره ساتی.

سربیره پر دی، نوموړی مستند ناځرګند حقیقت هم بربنډوی: که هرڅه وینفیلد د دغه جنایت له پیل ځخه د خپل پلار سره په امریکا کې په اړیکه کې وو او د مرستې غوښتنه یی کوله خو کله چې پلاره یی د څو دولتی او نظامی باصلاحیت دفترو سره پرلپسی اړیکې نیسی څوک ورته ځواب نه ورکوی او په پایله کې د امریکا یو نظامی چارواکې ورته وایی چې یواځینې ګواه یی ځوي دی او دا د شکایت درج کول لپاره پوره نه دی. دوم، د دی سره سره چې د امریکا دولت د دغه ډول وژنو په تور څو سرتیرو ته یی سزا ورکړی، خو سرتیری او د کورنې غړی یی وای چې د دغه ټولو ځناورتوبونو اصلی لامل د امریکا د فوځ او نظام جوړښت دی، او له دې پرته کیدی شو چې په لومړنې ګام کې د دغه ډول جنایاتونو د پیښیدلو ځخه مخنیوی وکړو.

او د مستند په پای کی کولې شو چې پایله واخلو چې د «وژونکو ډلې» سرتیرې هم د امریکا د وینې‌بهونکې او ورځ په ورځ ډیریدونکې جګړې قربانیان دی چې په نړۍ باندی د واکمنی کولو لپاره، یی هغوی په کلکزړو او د انسانی حس په نه درلودلو انسانانو باندی بدل کړی دی:

> «مورلاک: چا راته وویل چې ته وژونکی نه بلکه یوازی په وژنه باندی تورن شوی یی. نو په دغه بنسټ، د لومړنې وژنې څخه وروسته می په خپل ځان ویاړ وکړ. د خپل ځان سره می ویل چې اوس یو لوی سړی شوی یی. دا د نظام د یو پیاده کار دی. له تا

څخه پورته کسان ستا لپاره د الهام اخیستلو بیلګه ده او هر کار باید وکړی تر څو چې هغوی خوښ کړی.

هولمز: اوس ۱۹ کلن او په دې وروستیو کی د ښوونځي څخه فارغ شوی وم، فکر می کاوه چې په ټولو شیانو پوهیږم خو ډیره سخته تیروتنه می کوله. د داسی کسانو سره می سروکار درلود چې له ما څخه یی دغه ډول انسان جوړ کړ.

سترونر: له هغه ورځې څخه چې په فوځ کې داخلیږی، درته ویل کیږی چې د نظام د پیاده په توګه هر هغه څه چې ستا په وړاندی ودریږی له منځه یی یوسه، ستا دنده وژل دی... ټول په رسنیو کې مور ته د «وژونکو ډله» وایی، پوځ همدارنګه. مور یوازینې کسان وو چې ونیول شو خو نور هم له مور سره کوم توپیر نه لری.

مورلاک: هیڅ لاره راته پاتې نه وه چې د هغوی کومه برخه ونه اوسم، کله چې د ګیبز په شان کسانو له خوا اداره شی.

وینفیلد: ...جګړه یوه کرغیړنه پدیده ده.»



**د درواغو امپراتوری له منځه تګ** | کارتونیست: Hajo de Reijger



**د دوو ترهګرو مخامخ‌کېدل** | کارتونیست: Elihu Duayer



**د سولې پروسه** | کارتونیست: Osama Hajjaj

# «د افغانستان د همبستګۍ ګوند» خپروني تاسو کولي شي په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

**مازیگر کتابپلورځی**
اسحاقزی مارکېټ، جلال‌آباد

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# دردیدلو هیوادوالو،

کـه د خپلـواک، آزاد او دموکـرات افغانســتان غوښــتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړۍ او بې‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نیواکگرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندې خپله دنده ترسـره کړئ، نو د «افغانســتان د همبستگۍ ګوند» سره یوځای شی او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.


پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: **info@hambastagi.org**
ویب‌پاڼه: **www.hambastagi.org**
فیسبوک: **facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party**
**facebook.com/hambastagi**
تویتر: **twitter.com/solidarity22**
یوټیوب: **youtube.com/AfghanSolidarity**


د «افغانســتان د همبســتگۍ‌ګوند» د خپلو کړنو مخکې وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرســتو ته اړتیا لری. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره هم‌غږي شی:

**Azizi Bank**
**Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan**
**Name: Sayed Mahmood**
**Account No: 00190320464917**

# Hambastagi (Solidarity)

A Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

**10**

**PASHTO**





د ښځو او ماشومانو، د ښتوپخولو په بټیو کې د کارګرانو ستونزمن ژوند.... ۱۰ مخ





قیمت: ۲۵ افغانی